مورچل

هیواد کې د امریکاد پوځي شتون د تمدید پایلې !!

نهم کال، دریمه گڼه، پرلپسې (۷۹) یمه، جمادی الاولی ۱۴۳۶هـق، مارچ 2015م

- ولې کمونیستي پاتې شونوته مهم وزارتونه سپارل کیږي؟
- آغاز عملیات ها، و شکست های پی در پی دشمن چه میرساند؟
- دیمن د روان حالت خطرناک ارخونه او داسلامي نړۍ مسئولیت
- اشرف غني ولې پر خپل پوځ بې باوره دی!؟
- د افغانستان په زندانونو کې نوی بشري ناورین !
- یهود دشمن دیرینه مؤمنان!
- دغزني د جهادي چارو له محترم مسؤل سره د مورچل مرکه !

مورچل



نهم کال دریمه گڼه پرلپسې ۷۹ یمه گڼه جمادی الاولی ۱۴۳۶هـق مارچ ۲۰۱۵ ز

علمي، سیاسي او جهادي میاشتنۍ خپرونه

لړلیک

گڼه	مطلب	مخ
۱	هیواد کې د امریکا د پوځي شتون د تمدید پایلې!؟	۱
۲	ولې کمونیستي پاتې شونو ته مهم وزارتونه.....	۳
۳	اغاز عملیات ها وشکست ها.....	۵
۴	اشرف غني ولې په خپل پوځ بې باوره دی.....	۷
۵	د مبارزې لپاره کومه لاره غوره کړو؟	۹
۶	یهود دشمن دیرینه مؤمنان.....	۱۱
۷	د جهاد فقهی مسایل.....	۱۴
۸	د افغانستان په زندانونو کې بشري ناورین	۱۷
۹	په غزني کې د دښمن لخوا د پیل شوبو عملیاتو.....	۱۹
۱۰	نامتو مسلمان فاتحین.....	۲۵
۱۱	څو شیبې له خپل ولس سره	۳۰
۱۲	د لښکر قومندان ته د لومړي راشد خلیفه	۳۳
۱۳	د یمن د روان خطرناک اړخونه.....	۳۴
۱۴	مسلمان او د وخت تنظیم.....	۴۳
۱۵	تر ۲۰۷۰ کاله په د اسلام مبارک دین.....	۴۹
۱۶	د مدني ټولنو موخې.....	۵۱
۱۷	د دعوت ارشاد، جلب او جذب کمیسیون.....	۵۳
۱۸	جنګي جنایتونه.....	۵۵
۱۹	د امارت پیغامونه.....	۵۷
۲۰	د مورچل خبرونه.....	۶۰
۲۱	د مورچل وړمې.....	۷۲

د امتیاز خاوند

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

مسؤل مدیر

شکـــور (شفق)

کتـــنپلاوی

حـــسن خپل | ایـــوب صـــافی
حـــسن زوی | حکمت بغلانی
زبیر مـــسافر | حافظ سـعـید

تخنیکي چارې

دفرهنګي کمیسیون تخنیکي څانګه

مکاتباتي ادرس

پته: کابل ښار، پنځمه حوزه، د مجلې دفتر

E-mail: baakhtaraf@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحيم

هيواد کې د امريکا دپوځي شتون

دتمديد پايلې !!

دامريکايي تورپوستې مشر (بارک اوباما) دې اعلان، چې د روان ميلادي کال تر پايه افغانستان کې د خپلو سرتېرو شمېر صفرته نه راکوزوي ، بلکې د روان (۲۰۱۵) زکال تر پايه افغانستان څخه د خپلو(۱۰۵۰۰)سرتېرو څخه(۵۰۰۰)وباسي او تولتال(۵۵۰۰)تنه د(۲۰۱۶)زکال تر پايه پرېږدي،د يرغلګرو د مخکيني مهالويش سره سم چې، له مخې يې بايد د(۲۰۱۶)زکال په پای کې يوازې (۱۰۰۰)تنه امريکايي پوځيان د امريکا د سفارت او کونسلګريو د ساتنې لپاره پاتې وی، هغه پوځي شاګرځ او عهد شکنې ده ، چې له ورايه تړې ددوئ دتصميم نيونې اوپلا ن ګذاری تذبذب او تزلزل ښکاري ،او لاهم دوئ کابل کې دملياردونو دالرو په زور دروزل شويو عسکروپه باب بې باوره اواندېښمن دي .

تمه وه، چې نور به دافغانستان پاکه خاوره ددې کرغېړونوبهرنيانو له ښکيلاک څخه دتل لپاره پاکه شي او افغان مسلمان ولس به خپله برخليک ټاکنه کې داسلامي او افغاني ليد لورې په رنا کې آزدانه پريکړه وکړي، خو برخلاف ،مکاردښمن دا تولې هيلې او دمتوقع سولې تولې شونې لاړې زيانمنې اوپه تيره چاړه ذبح کړي اوهم يې دبې چاره افغان ولس دمزيدو وينو تويدو لپاره خونکاړې چاړې نورې پسې تيرې کړي .

له بده مرغه چې داشغال د اوږديدو او دنورو وينو دتويدلو ددوام د ارتکاب پيټی دکابل اداړې دې واکه مشر اشرف غني او عبدالله پرغاړه شواودوئ دې وروستيو کې دخپلو بادارانو دربار (امريکا)ته له ور تګ وروسته دوه ستر جنايتونه ترسره کړل، چې يويې همدا دامريکايي يرغلګرو دپاتې کيدواو پوځي شتون دامتداد غوښتنه، او بل واشنګټن ته څېرمه د "آرلينګټن هديرې کې د "بې نومه وژل شوي امريکايي پوځي" پر قبر د درناوي د ګلانو ګډی کېښودل،دوه هغه تاريخي جنايات دي ،چې راتلونکي نسلونه به دوئ په قبرونو کې هم له محاکمې معاف نکړي !

یرغلګرپدې بنه پوهیږي، چې هرځومره چې افغانستان کې اشغال اوږد کړي، نوبیا به هم افغانان هغه ولس نه وي ،چې دګلانو په ګیډۍ به یې وروستۍ شوبلې بدرګه کړي ،بلکې ددې پرته چې نور پوځي زیان او مالي تاوان تراسه کړي ،انشاءالله تعالی دخوشحالۍ کوم زیری به وانه وري اونه به کومه سوبه لاس ته راوړي !

اسلامي امارت دپخوا په شان پرخپله هغه شوي ژمنه ولاړ دی، چې څوپوړې خارجي عسکر له هیواده نه وي وتلي ، جګړه به هماغسي روانه وي او مجاهدین به له مورچلونو څخه نه کوزیږي ،اسلامي امارت په خپل غبرګون کې ویلې، چې داشغال اوږدول د (اوباما) لخوا دسولې پرخلاف ګام دی او ددې دا معنی داده، چې څوپوړې امریکایانودې هیواد کې ماتې نه وي خوړلې، نوتر هغې پورې به پاتې وي .

خوهغه چې دامریکایاپي عسکرو دایستلو دپلان دتغیر له پایلوبنکاري، امریکایان به په اسانۍ سره ونکړای شي، چې دې (۲۰۱۵)زکال کې هغه اهداف تراسه کړي ،چې ورته امیدوار دي، او پدې موخه یې نور هم اشغال اوږد کړ،بنایې دوئ پتیلې وي، چې په خپلوماتو ګودوعسکرو مجاهدینو ته ماتې ورکړي او دکابل دغلامې اردو مورال به لوړ کړي ،خوقراین او مشاهددې په عکس وړاندوینه کوي ،یرغلګرو امریکایانو چې دې تیرو څوارلسو کالو کې دخپلې تکنالوژۍ په مټ دپام وړ کوم بری تراسه نکړ،نو انشاءالله تعالی چې ددې نه وروسته ،چې دمجاهدینو جهادي روحیات تر پخوا لوړ،دیرغلګرو له تلوالې څخه چې د ناټواو سوله ساتوغوندې غړیو هیوادونو دیرو خپل محاربوي رول ختم کړی او کډې یې بار کړي او دجنګ په ډګر کې یوازې امریکایې عسکر پاتې دي، ددې هیله شته، چې دمجاهدینوپه وړاندې دمقاومت روحیه ونلري او نه به وکړای شي، چې دلنډو غرو نه دجوړې شوي اردو جنګي مورال لوړ وساتي ،بلکې دیر ی داسې مطبوعاتي راپورونه شته ،چې نږدې هره میاشت او هره اوونۍ دکابل داردو له لیکو څخه لسګونه او سلګونه عسکریا تیښتي او یا له مجاهدینو سره یوځای کیږي ،داسې یوه اردو چې په نظریاتي اډانه جوړه شوي نه وي، بلکې یوازې دځو ډالرو دګټلو په آند جوړه شوي وي ،یا دخینو داخلي جهتونواوملي ګرایانو لخوا دیوډول تعصب په فکر جوړه شوي، ددې شونتیا پکې ډیره کمه تر ستړګوکیږي ، چې دا دې بقا او پایښت ولري او دخپل ولس او هیواد ګټوته دې وفاداره وي .

زمونږ له نظره افغانستان کې دامریکایانو دپوځي شتون ،تمدید دسپینې مانۍ یوه نه جیړه کیدونکې تیروتنه اونه یوازې دافغان مسلمان ولس په منل شویو حقوقو یرغل دی، بلکې دسولې په لار کې ددوئ دژمنواو معاهداتو دتکذیب اوددوئ دخدع په معنی ده ،چې له امله به یې له افغانستان سره ددوستۍ او سولې نوی باب نه، بلکې ددښمنۍ نوی باب خلاص کړی وي او پایله به یې ددوئ دسر اومال دزیان نه په غیر بل څه نوي !!

انشاءالله تعالی

شاهد (غزنيوال)

ولې کمونيستي پاتې شونوته مهم

وزارتونه سپارل کيږي؟

د ګډ حکومت مشر- اشرف غني د خپلې نيمګړې کابينې د بشپړوالي لپاره دګر جنرال محمد افضل لودين د دفاع وزير په توګه ولسي- جرګې ته ور معرفي کړ.

نوموړی په فکري لحاظ کمونيست او د کمونيستي رژيم د واکمنۍ په مهال د دفاع وزارت مرستيالي ، د ختيځ زون تنظيمه رياست، د ننګرهار ولايت ، دکابل د ګارنيزيون قومندانې ، د ننګرهار د قول اردو مشرۍ او نورې ډيرې مهمې دندې ترسره کړې دي.

که څه هم چې جنرال لودين دخپل ځان په وړاندې د ملت حساسيت درک او له املې يې د دفاع وزير په حيث له خپلې کانديد توري څخه منصرف شو ، خو د ګډ حکومت د مشر- اراده معلومه شوه چې نوموړی غواړي يوځل بيا د افغان ولس سرنوشت د لودين او علومي په څير د افغان ولس قاتلو کمونيستانو ته وسپاري.

تر افضل لودين وړاندې د کورنيو چارو مهم وزارت يوه بل پاڅه کمونيست نورالحق علومي ته سپارل شوی او پر دوی دواړو علاوه د کمونيست رژيم يو شمير نور پاتې شوني هم د دولت په مهمو تشکيلاتو کې ځای پر ځای شوي ، نور کوښښ کيږي چې د کابينې نيمګړی تشکيل د دا ډول متنازع فيه کرکترونو په ټاکلو سره پوره کړای شي.

پخواني کمونيستان چې په حقيقت کې د افغانستان د ۳۶ کلنې غميزې اصلي عاملين دي د خپلې واکمنۍ په مهال د ترسره کړيو جنايتو له کبله د افغانانو په منځ کې د ترټولو منفورو څيرو په نوم شهرت لري.

که څه هم چې د ولس په خلاف تر سره کړیو جنایاتو کې ځینې تنظیمي جنګسالاران تر کمونیستانو هم وړاندې دي ، خو د ولس د کرکې او انزجار کچه د پخوانیو کمونیستانو په تیره د افضل لودین او جنرال علومي غوندې پوځي کسانو کومو چې د یرغلګرو شورویانو په دفاع کې یې د ډیرو مظلومو مسلمانانو وینې بهولې ډیره لوړه ده

ګډ حکومت چې د امریکایانو لخوا د ملي یووالي په نوم د افغان ولس د ملي وحدت د خپلو په غرض رامخته شوی غواړي په دولتي تشکیلاتو کې د دغسې متنازع فیه شخصیتونه د خای پرخای کولو له لارې د ولس ترمنځ نورو تفرقو او ستونزوته لاره پرانیزي.

پر دې سربیره ګډ حکومت لکه څرنګه چې په داخلي کچه د ګوندو نو او ډلو ترمنځ ویشل شوی ، په هماغه اندازه ورکې سیمه ییز هیوادونه او د هغوي جاسوسي حلقات هم سهیم دي او هر لوری غواړي د خپلو مصالحو د تضمین لپاره د خپلې خوښې وړ کسان د سهامي حکومت په مهمو پوستونو خای پر خای کړي .

که دا خبره نه وي ولې د ملت برخلیک یو خل بیا د هغو کسانو په لاس ورکول کیږي چې افغانان له تیرو دری نیمو لسیزو راهیسې د دوی د جنایاتو له کیله کړیږي ؟

د ګډ حکومت په کابینه کې د پخوانیو کمونیستانو خای پرخای کول ټولو افغانانو په تیره د مجاهدینو په نوم تنظمي جګړه مارو ته هغه له عبرته ډک درس دی چې باید ډیر څه تري زده کړي.

دکابینې په مهمو وزارتونکې د جنرال علومي او جنرال لودین په څیر مفکوره یې جنایتکارانو شتون هیڅ څوک په هیڅ ډول د هیواد او ولس په خیر نشي توجیه کولای ، هغوی یوځل خپل امتحان ورکړي ، ولس یې پر شوریانو خرڅ او دوي یې د حلقه بګوشه غلامانو په حیث وحشي مدافع ول چې یونیم ملیون افغانان یې په شهادت ورسول .

دغه تاریخي مجرمین باید د خپلو جنایاتو په جرم د ملت محاکمې ته وسپارل شي ، نه دا چې یوځل بیا د افغانانو برخلیک هغوی ته په لاس ورکړل شي چې دا خل یې له یرغلګرو امریکایانو سره د مقابلې او مقاومت په جرم یونیم ملیون نور شهیدان کړي .

خون ناحق دست ازدامان قاتل برنداشت
دیده باشي لکه های دامن قصاب را

محمد الیاس عاصم

آغاز عملیات ها، و شکست های

پی در پی دشمن چه میرساند؟

از آغاز کار اداره دو سره کابل که عین و غین در آن به شتاب زدگی مستدعی اختیارات بیشتر هستند، در عرصه نظامی بعضی از تحرکات جدید را روی دست گرفت.

مشوره بیشتر اعضای شروفساد و کمونستهای سابق، جمع شماری از کارشناسان نظامی مربوط به نیروهای اشغالگر، به این بود که نیروهای اداره کابل باید در برابر مجاهدین امارت اسلامی از حالت تدافعی به حالت تعرضی تغیر جهت نمایند.

بدین وسیله اداره دو سره کابل خواهد توانست که ساحات بزرگ را در بعضی از ولایات از کنترول مجاهدین بیرون آورد ویا اقلا مجاهدین را به پیشروی در برابر آنها نخواهد گذاشت.

به همین منظور عملیات در ولسوالی دانگام ولایت کنر، در ولسوالی امام صاحب ولایت کندز، در ولسوالی های متعدد ولایت هلمند و اخیرا عملیات گسترده در دو ولسوالی ولایت غزنی ده یک و شلگر به راه افتاد که به هزاران نیرو تازه نفس اداره کابل که نسبت به مجاهدین از اسلحه مدرن، فروان و نیز وسائط بیشتر و قوی تر نظامی بخوردار بودند در آن عملیات ها سهم گرفتند.

در این عملیات ها در پهلوی نیروهای مزدور اداره کابل، نیروهای خارجی هم همکاری داشتند و در نقاط که لازم میدانستند از عملیاتهای هوایی نیز استفاده صورت گرفت.

در تعدادی از رسانهای که ارتباط مستقیم ویا غیر مستقیم به اداره کابل، کشورهای اشغالگر ویا حلقات مخصوص استخباراتی دارند نیز، تبلیغات و شایع افگنی آشکار بخاطر این عملیات ها آغاز گردید، تاسعی نمایند عساکر مزدور را روحیه دهند، انها را تشجیع نمایند ویا اقلا با نشان دادن موفق بودن عملیات ها، ارقام از تلفات بیشتر مجاهدین را سرخط آخبارهای کاذب خود قرار دهند.

بدین وسیله دشمن سعی نمود تا به امریکایها و سایر حامیان خارجی اش وانمود کند، که آنها صلاحیت وکفایت از اجرای عملیات های مستقلانه را دارند و میتوانند در برابر مجاهدین استادگی کنند.

ولی این زد وگمان ها زمانی با مایوسی و دلسردی همراه شد که از ولسوالی دانگام کنر تا اجرای عملیات اخیر در ولسوالی ده یک و شلگر (اندر) ولایت غزنی، هیچ پیشرفت در برابر مجاهدین صورت نه گرفت، بلکی

برعکس در عملیات دانگام، مجاهدین ساحات وسیع را از وجود دشمن و اربکی ها، پاکسازی نمودند، راه ها را در برابر دشمن مسدود ساختند ونیروهای دشمن با تحمل تلفات دهاتن از عساکر خود، روبه وزرات دفاع کابل فرار نمودند.

همچنان در ولسوالی امام صاحب ولایت کندز، در عملیات های دشمن به دها تن از عساکر، پولیس واربکیهای اداره کابل کشته شدند، دها میل اسلحه به دست مجاهدین افتاد، وسائط زیادی از دشمن توست انفجارات مهیب و حملات رو در رو منهدم گشتند.

در ولسوالی های مختلف ولایت هلمند نیز دشمن با تمام آماده گی و همکاری هوایی خارجی نه توانست قدمی را هم بطرف مجاهدین پیش بردارند، بدون اینکه مردم ملکی را هدف قرار داده باشند، جنایت و وحشت را علیه مردم و اهالی بی دفاع انجان داده باشند، چیزی را به دست نه آوردند و به روی سیاهی به عقب رانده شدند.

همچنان اینکه در ولایت ده یک وشلگر غزنی نیز در مدت یازده روز عملیات خود، ۹۲ تن از عساکر خود را ازدست دادند، بیشتر از ۶۰ مجروح گردیدند، تا بیست عراده موتر و تانکهای دشمن طعمه ماین های زمینی شد.

در مقابل دشمن کوفت خود را از مردم ملکی کشید و در برابر مردم اهالی از اسحله ثقیله استفاده کرد که تا هفتاد تن از مردم عام را شهید ومجروح ساخت، بیشتر از دوصد خانه را توسط توپ خانه خود منهدم کرد، به دها رأس مواشی را از بین بورد، ولی با سرخمی بازهم فرار کردند، وبدون ارتکاب جنایتها، وتحمل تلفات چیزی بیشتر را به دست نیاوردند.

از این وضعیت معلوم میشود که دشمن چقدر در حالت واژگونی قرار دارد؟ با اختلاف های سیاسی در داخل اداره، اخذ رشوه، شدت بیشتر اختلاس و غصب زمین ها، در عرصه نظامی هم گنگس و گول شدند، وهیچ روزنهء به طرف پیشرفت نه یافتند.

اخیراً سر وصدای های صلح نیز جز خیال پلو و دل خوشی به خود، چیزی بیشتر ثابت نه شدند که هنوز هم دشمن را با یاس و نا امید مواجه ساخته و اکنون شاید دانسته باشد، که مقابله با مردم، دین و ارزشهای والای این کشور چیقدر صعب و دشوار است؟

مجاهدین امارت اسلامی با کسب روحیه بیشتر از موقف قوی برخوردار هستند وبه مردانگی خود هنوز هم متیقن گشتند، آنها در حالی عملیات بهاری خود را آغاز خواهد کردند، که دشمن را از قبل بی روحیه و سرکوب ساخته، وخود را در برابر آنها به مراتب آزموده اند.

اکنون امید آن میرود که عملیات بهاری مجاهدین که عن قریب آغاز خواهد شد، ان شاءالله ارمغان شکست و نابودی کامل دشمن را باخود خواهد داشت و دیری نخواهد گذشت که این ملت از آمون تاریخی کنونی هم بیرون آید و به سر بلندی زندگی پر افتخار و آرام را آغاز نماید. وما ذالک علی الله بعزیز

اشرف غني ولې پر خپل پوځ بې باوره دی !؟

موسی فرهاد

که څه هم میډیایي ګنګوس ډېر دی ، چې افغانستان اوس یو برجسته ملي اردو لري ، پولیس لري ، اربکیان لري او ډول ډول وسلوالې ملیشې لري . خکه نو اوس پرځان متکي یو هیواد بلل کیږي . چاته اړ نه دی . خپل ځان پخپله ساتلای شي . خو اشرف غني چې د امریکایانو استازی او په افغانستان کې د ډبل سري حکومت د رئیس په نوم یادیږي ؛ پر خپل پوځي ملیشه یې ځواک خورا بې باوره دی او په وار وار بې په لاندې توګه خپله بې باوري ښودلې ده :

۱ - په ۲۰۰۹م دوه زره نهم کال کې ،کله چې امریکایي یرغلګرو اعلان وکړ چې په یولسم کال کې به خپل جګړایز ماموریت ، خپل روزل شوي لښکر ، په اصطلاح افغان ملی اردو ته سپاري او دوی به نور له افغانستانه پښې سپکوي ؛ نو د یوې ستري کاري پروژې په بڼه یې دا کار پیل کړ . له خپل لوري یې د هغه وخت امریکایی قومندان ، چې د (*The Joint Afghan-NATO Inteqal Board (JANIB) for transition*) مشر ـ ؤ ؛ نماینده وټاکه ، او له افغان لوري اشرف غني ورته معرفي شو ترڅو د انتقال دا پروسه تکمیل کړي. یوځل یې په دې اړه مراسم تیار کړي وو، امریکایی جنرال وویل:

This is a good time, that NATO will transfer its responsibilities to the Afghan National Army. We hope that ANA will eventually succeed in their task. But Ashrafghani responsible for this transition. He has no confidence in the Afghan army.

دا یو ښه مهلت دی چې ناټو به خپل ماموریت افغان ملي اردو ته سپاري ، موږ امید لرو چې هغوی به د دې کار لپاره ښه وړتیا ولري ، که څه هم اشرف غني پرخپل پوځ باوري نه ښکاري .

یعني اشرف غني احمدزی چې هغه مهال د دې انتقالي پروسې مشر ؤ ؛ هم یې پر افغان عسکرو باور نه درلود چې هغوی دې په رښتیا یو اردو وي او د پوځ په نوم دې یاد شي .

۲ - په ۲۰۱٤م دوه زره څوارلسم کال کې چې کله عین و غین دواړه د جانکیري په مټ د افغانستان بادشاهان سول ؛ په همغه ورځ یې سمدستي له امریکا سره د امنیتي ټرون په نامه د تلپاتي جنګي اډو سند لاسلیک کړ . د دې لپاره چې هسې نه خارجي عسکر ووزي ، او دوی یوازي د مجاهدینو رحم و کرم ته پاتي شي . خکه چې پرخپل پوځ یې ګمان نه ؤ چې دوی دې له طالبانو خوندي کړي .

۳ - په ۲۰۱۵م دوه زره پنځلسم کال کې چې کله غني د لومړي ځل لپاره پاکستان ته په دوره ولاړی ؛ له پاکستاني پوځیانو یې غوښتنه وکړه چې زموږ عسکرو ته پوځي روزنه ورکړي ، هغوی ورسره ومنله . څو ورځي وروسته یې یوه جوپه عسکر پاکستان ته د روزني په موخه ولیږل . گویا هغه عاجله روزنه چې یرغلګرو ورته ورکړي ؛ د اشرف غني په اند بې ګټې ده ، او ممکن د پاکستان څخه روزنه یې د دې جوګه کړي چې اشرف غني ورباندې باور ي شي.

۴ - په ۲۰۱۵م دوه زره پنځه لسم کال کې چې عین و غین دواړه امریکا ته په سفر ولاړل ، هلته یې خپل بادارانو ډېر وستایل ، په افغانستان کې ټولې لاس ته راوړنې یې ټولې د امریکایی عسکرو مرهون منت وګڼلې ، او له امریکایی چارواکو یې غوښتنه وکړه چې موږ یوازې مه پریږدئ او خپل عسکر په افغانستان کې پریږدئ ، هغوی یې هم په کانګرس کې په ښو چکچکو استقبال وکړ او د عسکرو د پاتې کیدو خبره یې ورسره تائید کړه ، چې څه کم لس زره عسکر به په افغانستان کې تر امر ثاني پورې پاتې وي.

دغو پورتنیو بیلګو ته په کتو سره ، پوښتنه دا را پیدا کیږي چې ولې اشرف غني پر خپل پوځ بدګمانه او بی باوره دی ؟

ځیړونکي د دې دوه علتونه په ګوته کوي:

۱ - لومړی داچې اشرف غني چونکه امریکایي الاصله افغان دی ، نو ده ته د افغان ملي ګټو په نسبت د امریکایانو ګټې لومړیتوب لري ، نومورې نه غواړي چې امریکایان دې په مکمل ډول له افغانستانه ووزي ، د افغانستان لپاره که یې پایلې هرڅومره خطرناکي وي ؛ خو اشرف غني یې پروا نلري ، یوازې د امریکایانو حضور د ځان او د خپل ګوډاګي باند په خیر ګڼي .

ب - دویم داچې ، ممکن نومورې ، د حقیقت په درک کولو سره ، فکر کوي چې د یرغلګرو په سیوري کې تربیه شوی پوځ به د څه درد دواء وي ؟ څنګه به خپل ځان وساتي ، او څنګه به د خلکو ورباندې اعتماد حاصل شي ؟ څنګه به د یو ریښتیني اردو غوندې د وطن محافظ وګڼل شي ؟ هغه پوځ چې د ډالرو په طمع د هیواد له ګوټ ګوټ او بهر څخه د را ټولوشویو بې تعلیمه ، چرسي او بنګي ملیشو څخه جوړ شوی وي . او دومره په ایمرجنسي شکل یې روزنه شوي ، دریشي- یې ور واغوستي او ټوپک یې په لاس ورکړي ، ترڅو د امریکایې مراکزو ساتنه وکړي . نو دا په هیڅ صورت د باور وړ پوځ نه ، بلکې د یرغلګرو په ډالرو ژوندی ملیشې دي ، که امریکایان او د هغوی ډالر نه وي ؛ نو امکان لري چې نسیاً منسیاً له منځ ولاړ شي .

دغه پورتنی دوې خبرې ممکن آساسي لاملونه وي چې د اشرف غني باور یې د درې نیم لکه افغان اردو پرځای ، پر لس زره امریکایي عسکرو زیات کړی وي .

پای

قاري حبيب

د مبارزې کومه لاره غوره کړو؟

امت تر اشغال لاندې دی ، کفار او طواغیت د وړیو کجیرانو غوندې د مسلمانانو په ځانې او مالې شتمنیو تونګې وهي، مسلمانانو ته له دې ستم څخه د خلاصون لپاره د جهاد یا نجات بښونکې مبارزې مسؤلیت ور په غاړه دی.

شاوخوا له یوې پیړۍ راهیسې د اسلامي ویښتابه بهیر پیل شوی او په بیلابیلو ډولونو اسلامي مبارزې جریان لري.

د اسلامي مبارزو ډلو هرې یوې ته د خپلې غرکې شلومې خورې ښکاري او خپله لاره ورته د بربالیتوب ضامنه ښکاري، راځئ یوه شیبه په دې فکروکړو چې د اسلامي مبارزو لارې کومې دي؟ کومې یې منتجې او کومې یې پوچې یا غیرمنتجې دي، کومې یې د اجر په لحاظ اولې یا د نورو په نسبت افضلیت لري؟؟؟

عمر عبدالحکیم چې په أبومصعب السوري هم مشهور دی، د نړیوال جهادي خوځښت په ادبیاتو کې د عبقري یا نابغه په حیث شهرت لري،نومورې په سوریه کې د اخوانی سیاسي جریان برخه پاته شوی، بیا یې په افغانستان کې جهاد کړی، له هغه وروسته په الجزائز او لوبدیځ کې په غیرسیاسي اصلاحي فعالیتونو کې بوخت پاته شوی اووروسته یې افغانستان ته په هجرت سره د ملا محمد عمر مجاهد سره بیعت کړی او جهادي فعالیت یې پیل کړی دی او اوس له امریکایانوسره بندي دی.

نومورې د خپلې پراخې مطالعې او دقیقې مشاهدې له مخې اسلامي خوځښتونه په څلورو کټه ګوریو تقسیموي .

۱ــ سیاسي جریانات - یعني هغه چې ددیموکراسۍ په چوکاټ کې په سیاسي مبارزو سره غواړي اسلام حاکم کړي .

۲ـ غیرسیاسي اصلاحي - هغه چې په سیاست کارنلري بلکې د اجتماعي اصلاح لپاره دعوتي فعالیتونه کوي.

۳ـ جهادي خوځښتونه - هغه چې د اسلام د اصیل او معیاري فهم په رڼا کې مسلحانه جهادي مبارزه کوي.

۴.شاذ جهادي خوځښتونه - له دې څخه مطلب غلاة یا تکفیري جهادي خوځښتونه دي چې عام امت یې له فکر سره موافقه نلري .

شیخ أبومصعب چې په یادو جریاناتو کې په لومړیو دریو کې یې عملا خدمت کړی او تجربه ورته حاصله شوې دغه رازیې د مختلفو اړخونو اوزماني شرایطو په تناظر کې د یادو خوځښتونو دبرا او ناکامۍ چانس ارزولی وایي، چې په یادو جریاناتو کې لومړنۍ اووروستنۍ دبرا چانس نلري او په کې بوختیدل یوازې دوخت ضیاع اود مبارزې په نوم د خان او خلکو دوکه کول دي.

د برا چانس یوازې دوهم اودریم ډوله خوځښتونه لري یعنې سوچه اصلاحي خوځښتونه لکه د تبلیغیانو یا د اخوانیانو معاصر اصلاحي فعالیت کولای شي د ښکته لخوا د اصلاح په برخه کې مؤثرواقع شي اود مبارز سعی عبث نشي.

دغه رازمعیاري اومتوسط جهادي خوځښتونه لکه د طالبانو او القاعدة تنظیم هم کولای شي د امت د ملاتړ په توسط نظامونه بدل اوله لورې خوا د اصلاح پروژه تطبیق کړي.

خو دا چې یادودوو منتجو جریاناتو کې جهادي فعالیت د دعوتي اصلاحي فعالیت په نسبت ډیر مشکلات او امتحانات لري اود نتیجې تمه یې هم زر کیدلای شي د ان عظم الجزاء مع عظم البلاء په نسبت جهادي فعالیت په دعوتي فعالیت افضل اوبهتردی.

یهود دشمن دیرینه مؤمنان

سعید بدخشانی

خداوند متعال در قرآن کریم، یهودیان را در لست بدترین دشمنان اهل ایمان معرفی می‌کند و می‌فرماید: «لتجدن اشد الناس عداوة للذین آمنوا الیهود والذین اشرکوا» خواهی دید که دشمن‌ترین مردم برای مؤمنان، یهودیان و مشرکانند. (مائده: ۸۲)

حدود پنجاه سوره از یکصدو چهارده سوره قرآن عظیم الشان اعم از مکی و مدنی صراحتاً یا اشارتاً از قوم بنی‌اسرائیل و یهود صحبت می‌کند.

چرا خداوند متعال بخش قابل ملاحظه‌ای از وحی آسمانی ر ا به معرفی این دسته از انسانها اختصاص می‌دهد؟! آیا این کار به صورت تصادفی صورت گرفته است؟ هرگز این طور نیست؛ بلکه به طور یقین در آن اسراری نهفته و حکمتی مرموز است که آیات قرآنی به طور واضح و آشکار از این ماجرا پرده برداری کرده و حقیقت را بر همگان هویدا می‌سازد.

یهود و حسادت

آتش بغض و کینه یهودیان زمانی زبانه کشید که دیدند آخرین پیامبر خدا مبعوث شد اما از بنی‌اسرائیل نیست: «ولما جاءهم کتاب من عندالله مصدقا لما معهم و کانوا من قبل یستفتحون علی الذین کفروا فلما جاءهم ما عرفوا کفروا به فلعنة الله علی الکافرین». (بقره: ۸۹)

اینجا بود که وظیفه شیطانی خود را آغاز کرده و آتش کینه و حسادت باعث شد تا در انتشار فساد و عداوت از هیچ کوششی دریغ نورزند؛ زیرا یهودیان در تجاوز از حدود الهی سابقه‌ای دیرینه داشتند که به سبب

همین عمل از زبان پیامبران الهی مورد لعنت قرار گرفتند: «لُعن الذین کفروا من بنی‌اسرائیل علی لسان داود و عیسی بن مریم ذلک بما عصوا و کانوا یعتدون». (مائده: ۷۸)

لذا پیامبر اکرم صلی‌الله‌علیه‌وسلم با مشاهده شرارت و کینه توزیهای یهودیان، جهاد علیه آنان را آغاز کرده و طی مراحل متعدد اقدام به تبعید یهودیان مدینه نمود و به این صورت تا حدودی جلوی فعالیتهای اسلام ستیزانه آنان گرفته شد. آن حضرت صلی‌الله‌علیه‌وسلم بعد از اخراج و تبعید قبایل بزرگ یهود مانند قبیله بنی‌قینقاع و بنی‌نظیر، متوجه یهودیان بیرون مدینه شد که آنها نیز در مخالفت با اسلام و دعوت پیامبر نقش مهمی را ایفا می‌کردند. در نهایت با فتح قلعه خیبر که محل برگزاری جلسات یهودیان بود، قدرت یهودیان درهم کوبیده شد و شیرازه آنها از هم پاشید.

یهود و سم دادن پیامبر خدا

بعد از فتح خیبر، پیامبر اکرم صلی‌الله‌علیه‌وسلم طی معاهده‌ای بر اقامت گروهی از یهودیان به عنوان دهقان و کشاورز در خیبر موافقت نمود، اما آنها از این گذشت و مهربانی پیامبر صلی‌الله‌علیه وسلم سوء استفاده کرده و دست به توطئه‌ای زدند. روزی همسر یکی از بزرگان یهودی گوشت کباب شدهٔ گوسفندی را در حالی که بر روی آن سم ریخته بود، به آن حضرت صلی‌الله‌علیه‌وسلم هدیه کرد. پیامبر به محض اینکه گوشت را با دندان گزید - از طریق وحی - متوجه شده و فرمودند: «این گوسفند به من خبر داد که مسموم است!» وقتی آن زن را احضار کردند اعتراف کرد که این کار را کرده است، اما حضرت بشر بن براء رضی‌الله‌عنه در اثر خوردن مقداری از آن گوشت، به شهادت رسید و پیامبر اکرم صلی‌الله‌علیه‌وسلم نیز در طول زندگی اثرات آن سم را که از طریق بزاق دهان به معده رفته بود، احساس می‌فرمود، به طوری که در مرض الوفات به خواهر بشر بن براء فرمود: «احساس می‌کنم یکی از رگهای قلبم به خاطر گوشت مسمومی که به همراه برادرت خوردم قطع شده است». (ابوداود۴۵۱۲)

یهود و شهادت پیامبران الهی

کینه و دشمنی یهودیان با اهل ایمان، مربوط به امروز و دیروز نیست، بلکه خباثت این دیو فساد و عداوت، زمانی ظاهر شد که دستان خود را با خون بهترین بندگان الهی (پیامبران) آغشته نمودند که قرآن کریم به

نحو أحسن به بیان این موضوع می‌پردازد و می‌فرماید: «أفکلما جاءکم رسول بما لا تهوی أنفسکم استکبرتم ففریقاً کذبتم و فریقاً تقتلون». (بقره ۸۷)

زمانی که کشتن یک انسان معمولی و بی‌گناه، جرمی بزرگ محسوب می‌شود، در مورد کسی که کشتن پیامبران خدا از صفات بارزشان شمرده می‌شود چگونه قضاوت خواهیم کرد؟ آنان (یهودیان) در مدت زمان کوتاهی، بسیاری از پیامبران الهی را با روشهای مختلف شکنجه داده و به شهادت رساندند. آنان حضرت اشعیاء را به شهادت رساندند. آنان خون حضرت یحیی را به خاطر مخالفت با یکی از پادشاهان مبنی بر نکاح با محارم، بر بالای سخره بیت‌المقدس ریختند، حضرت زکریا را نیز به همین علت با اره از وسط دو نیم کرده و به شهادت رساندند. اقدام به قتل حضرت عیسی نمودند که خداوند ایشان را نجات داده و به سوی آسمانها بالا برد، این گروه جنایت کار و سفاک، بارها قصد ترور پیامبراکرم صلی‌الله‌علیه‌وسلم را نمودند که هربار با ناکامی مواجه شدند؛ آیا بعد از همه این جنایتها در حق پیامبران اولوالعزم الهی، مناسب نیست که یهودیان با لقب "قاتلین انبیاء" معرفی شوند؟

یهودیان و قوم بنی‌اسرائیل، همان طور که در قتل پیامبران الهی هیچ پروایی نداشتند، همواره سعی بر نابودی و قتل‌عام پیروان انبیاء که داعیان هدایت و سعادت بودند، داشته و دارند. قرآن کریم این مطلب را اینگونه بیان می‌کند: «إن الذین یکفرون بآیات الله و یقتلون النّبیین بغیرحق و یقتلون الذین یأمرون بالقسط من الناس فبشرهم بعذاب ألیم». (آل عمران: ۲۱)

حضرت قتاده در تفسیر این آیه می‌فرماید: منظور آیه، اهل کتاب می‌باشند. پیروان انبیاءآنان را امر به معروف و نهی از منکر می‌کردند اما یهودیان آنها را به قتل می‌رساندند.

مفتي ابومحمد (حقاني)

د جهاد فقهي مسائل

جهاد کې محرمات او مکروهات

الفرار من الزحف/یا جنګ کې ددښمن له ویرې تیښته

ټول فقهاء پدې متفق دي، چې دجهاد په میدان کې ثبا ت او استقامت واجب دی او دجهاد له ډګره ددښمن له ویرې تیښته حرامه ده، بل داچې له انساني مروت څخه یو ډول خلاف عمل دی او دمجاهدینو لیکو کې دماتې دروحیي پیاوړې کوونکې هم ده ،څنګه چې مونږ دلته ددې موضوع پر فقهي اړخونو څیړنه کوو،نو ځکه یې ددې رواني زیان نه راسپړو او پرهغې بحث نه کوو.

دحرمت دلایل یې په لاندې ډول دي.

الله تعالی فرمایي چې { يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ إِذَا لَقِيتُمُ الَّذِينَ كَفَرُواْ زَحْفاً فَلاَ تُوَلُّوهُمُ الأَدْبَارَ /سورة الانفال ١٥آیت)ژ:ای هغو خلکو چې ایمان مو راوړی دی، کله چې له کفارو سره دجګړې په ډګر کې (دجنګ په صحنه کې) پداسې حال کې مخامخ شئ، چې دوئ غونډ وي ،نوشا ورته مه وراړوئ ،(تیښته ترې مه کوئ)! او بل ځای کې الله تعالی فرمایي : { يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ إِذَا لَقِيتُمْ فِئَةً فَاثْبُتُواْ وَاذْكُرُواْ اللهَ كَثِيراً لَّعَلَّكُمْ تُفْلَحُونَ/الانفال ٤٥آیت } ژ:ای هغو خلکوچې ایمان مو راوړی، کله چې دکفارو دډلې سره (چې هغوئ دجنګ تابیا نیولې وه) مخامخ شوئ ،نوثابت قدمې واوسئ ،او الله تعالی ډیر یادوئ ،ددې لپاره چې تاسو کامیاب شئ !

همداسې رسول الله صلی الله علیه وسلم له اوو مهلکاتو څخه یودجګړې څخه تیښته بللې ده، لکه دبیهقی دې حدیث کې چې راغلي دي : عن أبي هريرة رضي الله عنه أن رسول الله صلى الله عليه و سلم قال اجتنبوا السبع الموبقات قالوا يا رسول الله وما هن فذكرهن وذكر فيهن التولي يوم الزحف رواه البخاري في الصحيح عن الأويسي- (سنن البيهقي الكبري).

(فرارعن الزحف)یا ددښمن له مقابلې څخه تیښته جایز ده که نه ناجایز ؟ کله روا کیدلای شي ؟دا هغه موضوع ده، چې د فقهاوو ترمینځ پکې اختلاف دی ، په(الموسوعة الفقهية) کې لیکي :چې شوافع رح ،مالکیان رح او حنابله فقهاء رح پدې نظر دي ،چې دجنګ په میدان کې ددښمن له مقابلې څخه تیښته نده جایز ،بلکې

حرام ده ،او په دوو شرطونو استقامت او ثبات واجب دی .

لومړی شرط داچې :دکفارو شمیر دمسلمانانو د دوه برابرو څخه زیات نوي،که چیرته دمحاربو کفارو شمیر دمسلمانانو له شمیر څخه له دوه چنده څخه هم زیات وي، نو دې صورت کې بیا مسلمانانو ته له جګړې نه تیښته یا فرار جایز دی ،چې دلیل یې دا قول دباری تعالی دی چې فرمایي : { الآنَ خَفَّفَ اللهُ عَنكُمْ وَعَلِمَ أَنَّ فِيكُمْ ضَعْفًا فَإِن يَكُن مِّنكُم مِّئَةٌ صَابِرَةٌ يَغْلِبُواْ مِئَتَيْنِ وَإِن يَكُن مِّنكُمْ أَلْفٌ يَغْلِبُواْ أَلْفَيْنِ بِإِذْنِ اللهِ وَاللهُ مَعَ الصَّابِرِينَ /الأنفال: ٦٦}

داکریمه آیت که څه هم دخبر په لفظ سره راغلی ، خو د(الآنَ خَفَّفَ اللهُ عَنكُمْ }په دلیل سره دامر په معنی دی ،که چیرته خبر په حقیقت باندې حملیدلای ،نومونږ به دیوه له غلبې څخه دلسو په مقابل کې دوو ته تخفیفاً نه رد کیدلای ،نومعلومه شوه ،چې ظفر او بری هغه صورت کې چې کفار دمسلمانانو دوه برابره یا تړې کم وي نه حاصلیږي،چې ددې څخه څرګنده شوه، چې دا فرض او امر دی چې دومره باید وي ، په(الموسوعة الفقهية) کې بیا لیکي :چې مالکیان علماء رح وایې :که چیرته دمسلمانانو شمیر (۱۲۰۰۰)دوولس زرو ته ورسید،نو دې صورت کې که څه هم دکفاروشمیر نهه ډیرووولي مسلمانانوته له جګړې فرار او تیښته حرامه ده، خو شرط به داوي چې اختلاف به یې کلمه کې نه وي ،بل داچې کفاربه ددده یا دمسلمانانو دمرستې په محل کې نه وي ،که وي بیا جایز ده .

او (المكتبة الشاملة) دفقه عام د کتابونو په کتارکې د(الموسوعة الفقهية ج۱۵ص۱۹۱) په حواله دحنفي مذهب له نوموتي محقق عالم (علامه ابن عابدین شامي رح) څخه نقل کړي دي، چې (فتاوى الخانيه) کې داسې لیکل شوي :چې مسلمانانو ته ندي مناسب ،چې دوئ داسې وخت کې تیښته وکړي ،چې شمیر یې (۱۲۰۰۰)دوولس زره وي ،که څه هم ددښمن تعداد یې مقابل کې نهه ډیر وي، خو بیا به هم دجنګ له میدان څخه تیښته نه کوي، دا ځکه چې حضرت رسول اکرم صلى الله عليه وسلم فرمايي چې: «لن يغلب اثنا عشر ألفا من قلّة/كما رواه أحمد وأبو داود))ژ:هیڅکله به دوولس زره کسیز ځواک دشمیر دقلت له وجه نه مغلوب نشي .

حاصل یې داراوخي چې :که چیرته دده غالب ګمان داوي،چې مغلوبیږي، نو بیا فرار ورته روا دی ،همداسې که چیرته یو کس خالي سلاح له دوو مسلحودښمنانو سره مخامخ شو،نو هم ورته تیښته روا ده ،او امام محمد رح په قول یوه غښتلې مجاهدته مکروه دي، چې له دوو کافرانو څخه فرار وکړي ،همداسې که مسلمانان (۱۰۰)سل کسه وي، نو ورته مکروه دي ، چې له (۲۰۰)دوه سوه کافرو څخه تیښته وکړي .خوکه یو کس له دریو کسو کافرو او همداسې (۱۰۰)کسه مسلمانان له (۳۰۰)کسو کفارو څخه فرار کوي ،ورته جایز دي

،داپورتني فروعات الموسوعة الفقهية /ج١٥ص١٩١ له مختلفو فقهي مراجعو څخه راټول کړي دي .

په جنګ کې دثبات لپاره دويم شرط دادی : چې په فرار سره (تحيز الى فئةاو تحرف لقتال) نه وي مقصود ،يعنې ددې مجاهددانوي غرض ،چې ګوندې دمجاهدينو يوه بل هغې ګروپ سره ځان ددې لپاره يوځای کړي، چې ځان پرې اکمال ،ځواکمن او مرسته ترې ترلاسه کړي، او بيا دمګړۍ پر دښمن حمله وکړي ، هغوئ چې دجنګ ډګر کې نه نشتهچې دادتحيز معنی شوه ، او نه يې داهدف وي ،چې ددې لپاره ددې مورچې څخه فرار کوي، چې دبل لورې نه پرې حمله وکړي ،چې دا تحرف لقتال معنی شوه ،که چيرته دا دواړه دده هدفونه وو،نوکه چيرته دده دادواړه اغراض وو ،دې صورت کې له جنګ نه فرار مباح دی ،ځکه الله تعالى فرمايې چې : { ... إِلاَّ مُتَحَرِّفاً لِّقِتَالٍ أَوْ مُتَحَيِّزاً إِلَى فِئَةٍ }.

تحيز :دې کې فقهاء سره څه اختلاف لري :ځينې ترې دا معنی مراد اخلي، چې يوه بل ګروپ يا ډلې ته پناه داکمال او مرستې په موخه وروړي، دا عامه ده، چې ورځخه ليرې وي او که نږدي ، يعنې جنګ په خراسان کې وي او هغه ډله يا ګروپ چې دا ورځخه ددښمن په مقابل کې مرسته غواړي او ورته پناه وروړي ، په حجاز کې وي ،نو هم دا تحيز دی او روا دی، لکه دحضرت ابن عمر رضی الله عنه داحديث شريف چې استدلال ترې کيږي (لأنّ ابن عمر روى «أنّ النّبيّ صلى الله عليه وسلم قال للّذين فرّوا إلى المدينة وهو فيها : أنتم العكّارون ، أنا فئة المسلمين » وكانوا بمكان بعيد عنه .

وفيه دليل على أنّ المتحيّز إلى فئة عكّار ، وليس بفرّار من الزّحف ، فلا يلحقه الوعيد .

دې ډول شاته تګ ته فرار نه، بلکې (عکار) وويل شو او داهم تحيز کې داخل شونه دفرار عن الزحف په کتار کې .

او بل قول چې البته داد (الدسوقی)رح قول دی او د(قيل) په صيغه يې ذکر کړی دی ، هغه دادی، چې تحيز هغه وخت روا دی، چې هغه ګروپ ورته نږدي وي او مسافه يې ترې ډيره نه وي ،داددې لپاره چې هغه فئه ورسره راووځي او پردښمن بيرته برید وکړي ،که ليرې وي ،نو بيا به څنګه ورسره راووځي .

خو دجيش مشر يا امير ته جواز نلري ، چې دتحيز او يا په غير دتحيز څخه دجنګ له ميدانه فرار وکړي ،(الموسوعة الفقهية /ج١٧ص١٦٩) کې ليکي :چې که څه هم ددې امير يا مشر هلاکت او دلښکر دبې مشره پاتې کيدو احتمال هم وي، نو بيا به هم فرار نه کوي ،البته که ټول لښکر دهلاکت له ويرې فرار کاوه بيا دجيش امير ته هم فرار جايز دی !

والله اعلم ---- نوربيا .....

میوند سادات

دافغانستان په زندانونو کې نوی بشري ناورین

دنوي ایتلافي حکومت له پیل سره دافغانستان په زندانونو کي بشري ناورین زور واخیست، که څه هم دګډ حکومت مشر اشرف غني واک ته درسیدو سره سم دځرخي پله زندان ته ولاړ، محبوسینو ته یې داډ ورکړ چي ظلم به نه وربانديي کیږي ، کوم کسان چي بې ثبوته نیول شوي وي ، یاپې دحبس موده پوره شوې وي ژر تر ژره به خوشي شي ، خو اشرف غني تراوسه پوري نه یوازي داچي دولس او زندانیانو سره کړي ژمنې پوره نه کړې ، بلکي اسیران نور هم دکراونو اوتعذیبونو سره مخ شول .

څو ورځي مخکي دځرخي پله په زندان کي یو نوي کلن بندي چي درې کاله وړاندي یې دحبس موده پوره شوې وه، دډیپریشن او مایوسۍ له امله یې زړه و درید او له کور او روغتون څخه لیري په دغه زندان کي یې دژوند وروستۍ سلکۍ ووهلې.

په نیمروز کي زندانیانو ته دجسمي تعذیب سربیره دروحي ځور په خاطر دمحبس ساتونکو عسکرودقرانکریم سپکاوی وکړ، اسیرانو دقران کریم څخه ددفاع په موخه دعسکرو سره نښته وکړه چي په پایله کي یې دواړو طرفونو ته مرګ ژوبله واوښتله .

همدا رازدشبرغان په مرکزي زندان کي عسکرو پنځه تنه اسیران شهیدان او شپاړس کسه ژوبل کړل، دغه پیښه له دې سببه رامنځته شوه چي دکابل اداري چاواکو غوښتل د شبرغان له محبس څخه یو سلو پنځوس تنه زندانیان بګرام ته ولیږدوي، ددوی ددغه کرغیړن عمل په وړاندي بندیانو عکس العمل وښود چي نتیجه یې بیا هم

دبې وسه او بې وسلې زندانیانو په مرګ ژوبلې واوښته .

تېره میاشت په افغانستان کې دملګرو ملتونو اداري(یو ناما) هم د افغانستان په زندانونو کې دبشري تیریو خبر داری ورکړ ، یوناما په خپل راپور کې ویلي چې : دافغانستان په محابسو کې بندیان دبرقي شارټونو په زور اعتراف ته اړیستل کیږي اوپردې سربیره زندانیان دلرګي ، پایپ اوکیبل په وهلواو تعذیبولوسره دچارواکو دخوښې مطابق اقرارته مجبوریږي .

یوناما۲۰۱۳-۲۰۱۴ کلونو کې دافغانستان دزندانونو وضعیت څېړلی، یوناما وایې چې : دغه راپور یې په اته ویشت ولایتونوکې داووه سوه نوي تنو زندانیانو څخه دپوښتنو گر ویړنو پربنسټ چمتو کړی .

دیوناما په راپور کې راغلي چې دیو سلو پنځو تنو ماشوم زندانیانو له جملې دځلور ځلویښت تنو سره یې خورا ناوړه چلند شوی دی.

که څه هم یوناما اوس دپخواني حکومت په پرتله دزندانیانو او زندانونو وضعیت په نسبي ډول بهتر بولي، خودکرزي په وروستي کال چې کوم بندیان دبګرام له تور زندان څخه دځرخي پله محبس ته انتقال شوي وو، دغني په واکمنۍ کې یو ځل بیا مظلوم اسیران دبګرام زندان تورو او وحشي پنجرو ته ولیږدول شول .

دځرخي پله په زندان کې به داسیرانو سره قریبانو او دوستانو ملاقات کولای شوای ،بندیان به دموظفو عسکرو سره په ژبه پوهیدل ، تر بګرام په ځرخي پله محبس کې ديني او کلتوري ازادي نسبتا زیاته وه ، خو بګرام ته په انتقال له بې وسو زندانیانو یو وار بیایادي شوې ازادۍ او هغه حقونه چې نړیوال یې په یوه خوله مني وترورل شول .

دبشري حقونو دملاتړ ټولني اوبشري فعالان باید دبشري خواخوږۍ په خاطر په زندانونو کې دروان وحشیانه چلندپرضد خپل ږغ پورته کړي تر څو ظالم چارواکي مجبور شي چې بندیانو ته خپل هغه حقه حقونه ورکړي چې دجینوادکنوانسیون له مخې یې امریکا او افغانستان په رعایتولو مکلف دي .

مرکیال الیاس عاصم

په غزني کې ددښمن لخوا د پيل شوې عملياتو د جريان په اړه د غزني د جهادي چارو له محترم مسؤل مولوي صميم مجاهد سره د مورچل مرکه!

پيادښت: محترمو لوستونکو! تاسوبه خبرياست چې د کابل د مزدوري اداري د عسکرو لخوا په دې وروستيو کې د غزني ولايت په ديک او شلگر ولسواليوکې په اصطلاح عمليات پيل شوي. داچې په دې عملياتو کې دښمن تر اوسه څه لاسته وروړي او مجاهدينو د دښمن په مقابل کې څه ډول مقاومت او مقابله کړې. په دې اړه مو د غزني له محترم والي صاحب مولوي صميم مجاهد صاحب سره خانګړې مرکه کړې چې لوستلوته يې ستاسو پام راګرځوو!

پوښتنه :محترم والي صاحب داچې له تيرې يوې اوني راپه دې خوا د غزني د شلگر او ديک په ولسواليو کې د دښمن لخوا د مجاهدينو په ضد د (نصرت؟!!) په نامه عمليات پيل شوي وو، څرنګه چې تاسو دغزني ولايت عمومي مسئوليت په غاړه لري او د جګړې په صحنه کې ياست تاسو د دښمن دغه عمليات څرنګه ارزوئ، دښمن څومره بريالی وو او په جګړو کې د دښمن، مجاهدينو او عامو خلکو د تلفاتو شمير که راته ووايئ؟

بسم الله الرحمن الرحمن

الحمدلله رب العلمين والصلوة والسلام علی سيد المرسلين اما بعد:

څرنګه چې تاسو يادونه وکړه هو ديوې اونۍ را پدې خوا د غزني ولايت د شلگر او ديک ولسواليو اړوند سيمو کې د دښمن لخوا پراخ عمليات پيل شوي دي، چې د دښمن په سلګونو عسکر په کې ونډه لري، يوسل او اتيا ټانکونه ورسره دي، په مجهزو وسلو سمبال دي او د غزني د مرګز او پکتيکا له ولايت څخه دغه قوه د يادو عملياتو لپاره راوستل شوې ده.

په شلگر ولسوالۍ کې يې له دريو خواوو څخه عمليات پيل کړل، اول د سلطان باغ، سيدوخيلو، نادرخان، چارخانه، زرين، غلام صديق کلا او عاشقوالو کلا، همدا راز له دوو نورو اړخونو څخه يې هم عمليات پيل کړل، چې بالمقابل د مجاهدينو له شديد مقاومت سره مخ شول، مجاهدين په ډيره ميرانه او په ډيرعظيم استقامت سره په دې باندې وتوانيدل چې د دښمن پراخ عمليات په شا وتمبوي، په نتيجه کې يې چې څومره دقيق معلومات مورږ لرو دښمن ته د سر اومال ډير درانه تلفات واوښتل، چې په مخامخ جګړو او نورو تکتيکونو کې د دوي ۱۶ ټانګونه او دری رينجر موټر په ماينونو او مخامخ بريدونو کې له منځه تللي او تخريب شوي دي، ۸۳ عسکر يې قتل شوي او ۵۱ تنه يې ټپيان شوي، بالمقابل د دښمن په بريدونو کې هم ۳ تنه مجاهدين په شهادت رسيدلي، ۸ نفره زخميان شوي، ورسره ۲۰ نفره ملکي خلک هم د دښمن په

هوان او توپ بریدونو کې شهیدان شوي او ۲۵ تنه زخمیان شوي دي، او زمونږ د معلوماتو له مخې تر دوه سوو پورې ودانۍ او دملکي خلکو کورونه د دښمن په هوان او توپ بریدونو کې تخریب شوي دي، چې دا تر پرون مازدیګره پورې د شلګر ولسوالۍ د عملیاتو ټول خلاصه معلومات وو، همدا رنګه د دیک په ولسوالۍ کې هم له دوو خواوو څخه د دوي عملیات پیل شول، له علي خیلو، عثمان، شبک او نیازقلا په دغو سیموکې د دوي عملیات د تلاشي په نامه پیل شول، چې بالمقابل د مجاهدینو له شدید عکس العمل او مقاومت سره مخ شول، مجاهدین وتوانیدل چې په دغو عملیاتو کې هم د دښمن ۷ ټانګونه له منځه یوسي او یو رینجر موټر یې ورته تخریب کړي، همدا راز د دښمن ۱۸ تنه عسکر او اربکیان وژل شوي، ورسره یو عراده موټر سایکل او دوه میله اسلحه هم مجاهدینو ته په لاس ورغلې ده، د دیک په ولسوالۍ کې په کلیو باندې د دښمن په هوان بریدونو کې۳ تنه ملکیان شهیدان شوي او۷ تنه نور ټپیان دي.

د دښمن لخوا د دیک په ولسوالۍ کې عملیات په ناکامۍ سره پای ته رسیدلي دي، خو د شلګر په ولسوالۍ کې دښمن نن غرمه بیا هم د (نورالمدارس) له خوا څخه عملیات پیل کړي چې د مجاهدینو له سخت مقاومت سره مخ شوي، مجاهدینو د دښمن په مقابل کې خط جوړ کړي، او په ډیر متین عزم سره د دښمن سره د مقاومت په سنګر کې پراته دي، الحمدلله په ډیر عالي مورال سره له دښمن سره جګړه پرمخ وړي او تر اوسه پورې مجاهدینو کې کومه نیمګړتیا نه لیدل کیږي.

پوښتنه :محترم والي صاحب تاسو وویل چې په دیک کې د دښمن عملیات پای ته رسیدلي دي او په شلګر کې روان دي، داخو به داسې نه وي چې دوي خپلې قواوې له دیک څخه هم شلګر ته انتقال کړي وي، ځکه په دیک کې چې د دوي کومې قواوې وي، هغه کومې خواته لاړې؟

ځواب : د دښمن قواوې خو د غزني له مرکز او له پکتیکا ولایت څخه راغلي وي، چې یو سل او اتیا ټانګونه وو او اول یې په دغو دواړو ولسوالیو (دیک او شلګر)کې عملیات پیل کړل، وروسته له ځلورو ورځو څخه یې د دیک له ولسوالۍ څخه خپل عسکر راویستل او دشلګر ولسوالۍ د بندې سردې له لورې نه او دکابل کندهار چې کوم سړک پروت ده، له دې خوا نه یې د شلګر په ولسوالۍ کې خپلو عملیاتو ته دوام ورکړ.

پوښتنه :ډیره مننه والي صاحب، داسې راپورونه دي چې کله دښمن ته په ده یک او شلګر ولسوالیو کې درانه تلفات واوښتل او دوي پرمختګ ونشو کړای، نو دوی بیا کلي او د عامو خلکو کورونه په ثقیله وسلو (توپونو او هوانونو) باندې وویشتل، که داخبره سمه وي، څه فکر کوي چې دا عملیات به دوي ته څومره نتیجه ورکړي او د داسې کړنې څخه به یې هدف څه وي؟

ځواب: هوا دا واقعیت ده، چې کله دوي د ده یک په ولسوالۍ کې د مجاهدینو له شدید مقاومت سره مخ شول، همدا رنګه د شلګر په ولسوالۍ کې، نو بیا د دوي د تش په نامه اردوي ملي یو یونټ او قرارګاه په ده یک ولسوالۍ کې شته چې هلته یې غټ توپونه نصب کړل او د ده یک ولسوالۍ ګڼ

میشته سیمې همدا رنګه د ښلګر ولسوالۍ ګڼ میشته سیمې دایې دخپلو توپونو او هوانونو تر بریدونو لاندې راوستلې، چې په نتیجه کې یې ۳ تنه مجاهدین شهیدان شوي او عامو خلکو ته بیا ډیر زیات تلفات اوښتي چې ما یې مخکې تاسوته یادونه وکړه، موږ چې د سیمې له خلکو څخه څومره معلومات وکړل، نو د دښمن د هوانونو دبریدونو په نتیجه کې ګټه مجاهدینو تر لاسه کړه، ځکه عام ولس لکه څرنګه چې مخکې هم له مجاهدینو سره همکار وو، د دغو بریدونو له امله یې له مجاهدینو سره عملي همکاري وښودله، او د غلامې اداري سره یې خپل نفرت ښکاره کړ چې بې له شکه د مجاهدینو په ګټه تمام شول.

پوښتنه :منه محترم والي صاحب که دا راته واضحه کړئ چې تیره ورځ کله چې عامو خلکو د تلفاتو په لیدلو سره د اعتراض په ډول خپل شکایت د غزني مرکز او د کابل اداري د والي دفتر ته یورل، او په شلګر او ده یک ولسوالیو کې یې د دښمن دبې رحمې او عام وژنې څخه پرده پورته کړه، په عین وخت کې دکابل اداري دفاع وزارت د ملکي تلفاتو خبره بالکل رد کړه، په داسې حال کې چې پخپله عیني شاهدانو او قومي مشرانو هلته د تلفاتو راپورونه ورکړل او د دوي والي ته یې اعتراض وکړ، تاسو د دوي، دې انکار ته په کوم نظر ګورې؟

ځواب: نو داخو دلمر غوندې روښانه ده، چې تاسو له ساحو څخه معلومات وکړي، له موږ سره عام ولس په رابطه کې ده، د مجاهدینو تلفات هغه وو چې ما تاسو ته مخکې بیان کړل، او د عاموخلکو د تلفاتو په اړه که تاسو د خلکو څخه پوښتنه وکړئ، یا هلته ورشئ، تازه هدیرې وګورئ، نو داکومې خبرې چې دښمن کوي هغه ټولې بې بنیاده او بې اساسه دي دوي غواړي په داسې خبرو باندې په خپل ظلم او وحشت باندې پرده واچوي، خو هغه له ولس څخه پټ نشي پاتې کیدلې، ولس د دوي ظلم او وحشت ته ښه متوجه دي، په میډیا کې هم موږ اورو چې عامو خلکو د دوي د جنایاتو په وړاندې اعتراض وکړ او د دوي وحشت یې په میډیا کې ښکاره او ټولوته یې بربنډ کړل.

پوښتنه :ستاسو له معلوماتو څخه ډیره منه، یو خبره چې روښانه ده، هغه داده چې دغزني د ملکي عام وژنې په وړاندې رسنۍ لکه څرنګه چې ښایي هغسې رپوټونه نه خپروي، سره له دې چې عام ولس په فِغان او شکایت ده، که فرض کړو چې خدای مکړه داسې ظلم د مجاهدینو لخوا شوی وای او د عامو خلکو کورونه په قصد او بې رحمۍ سره داسې په نښه شوي وای نو همدې رسنیو به بیا څومره شور جوړ کړي وو او اوس ولې په دې اړه چندان دلچسپي نه لري؟

ځواب: غالباً رسنۍ که هغه دلته په غزني کې دي او که په کابل کې دي، دا د دوي تر اثر لاندې دي، دوی د هغوی رپوټونه سانسوروي، یو تعداد داسې کسان هم په میډیا کې شته چې هغه د دوي لخوا استخدام شوي، هغوی بیا داسې خبره نه نشرکوي چې د دوي په زیان وي، بلکې صرف هغه څه چې د دوي په ګټه وي هغه نشر وي.

پوښتنه :منه، که یوې بلې خبرې ته راشو، دښمن له څه مودې راهیسې په مختلفو ولایاتو کې د عملیاتو لړۍ پیل کړي، مثلا د کنړ دانګام، د

کندز امام صاحب، د هلمند په څو ولسوالیو کې او اوس داده په غزني کې، خو په دا ټولو محاذونوکې دوی د قوت له استعمال سره سره سخت ناکام شول، تلفات یې ولیدل او عسکرو یې روحیه له لاسه ورکړه، ستاسو په نظر دوي له دغه ډول عملیاتو او د عملیاتو له تسلسل څخه څه هدف درلود او څومره ګټه یې وکړه؟

ځواب: زما په خپل نظر باندې دا ددوي هغه آخیري زور آزموینه ده، داچې پسرلی را روان ده، دوی خپل کوښښ کوي ترڅو خپلو عسکرو ته یو قسم مورال ورکړي او ووایي چې داده ساحې زموږه په لاس کې دي، او که موږه وغواړو یو ساحه د مجاهدینو څخه ونیسو نو هغه ساحه هم نیولی شو، خو دوی په خپل دغه تخمین کې ناکام شول، هغه ده په عمل کې د کنړ په دانګام کې تاسوته روښانه شوه، په هلمند کې روښانه شوه، داده اوس په شلګر کې هم واضحه شوه، دلته هم دوي خپل تکتیک بدل کړي ده، له پرون مازدیګره راهیسې، دوي دخپلو عملیاتو مخ را اړولي ده، د نورالمدارس خواته، له سهار تراوسه پورې شدیده جګړه روانه ده، د وروستنیو مخابروي، تماسونو په اساس دوي یو متر هم مخته نه دي راغلي، نو دا د دوي هسې نمایشي غوندې کارونه دي چې په لاره یې اچولي خو ان شاءالله دوی به له دغو هڅو څخه هیڅ شی هم لاسته نه کړي.

پوښتنه :دا که دښمن د کنړ د دانګام څخه تر کندز، هلمند او بیا داده تر غزني پورې داسې ناکام عملیات اجرا کوي، خو بیا تلفات ګوړې او هیڅ پرمختګ نه شي کولای، نو د دوي عسکر خو دا هرڅه له نیږدې ګوري، څه فکر کوي چې دغه ډول ناکامي د دوي د عسکرو په روحیه باندې څومره بده اغزه لرلای شي؟

ځواب: ډیر زیات، موږ په دې باندې مطمین یو چې ان شاءالله دغه عملیات به زموږ په ګټه پای ته رسیږي، دا اوس هم دځینو استخباراتي او امنیتي ملحوظاتو په خاطر نه غواړو په میډیا کې جزئیات ورکړو، خو اوس هم موږ داسې لاسته راوړنې لرو چې ان شاءالله په خپل وخت کې به یې اعلان کړو او ټول به پرې خبر شي، دا عملیاتو او بیا ناکامیو د دوی په مورال بایللو عسکرو باندې ډیر زیات منفي اثر کړي ده، ان شاءالله زموږ د رابطو او د ارشاد او دعوت د هڅو له امله به وشو کړای چې ډیر زیات کسان د دوی له لیکو راوباسو، د خپلو اعمالو څخه به لاس په سر شي او د اسلامي امارت له مجاهدینو سره به یوځای شي. ان شاءالله.

پوښتنه :که راشو دې موضوع ته چې دا جګړه طبعا اوږده شوه، او ډیره لویه ساحه یې په برکې نیولې ده، که دا معلومات راکړي چې هلته په سنګرونو کې مجاهدین په څه حال کې دي او تر څومره پورې مجاهدین به په دغو عملیاتو کې د دښمن په مقابل کې په جګړه بوخت وي؟

ځواب: نو داخو جنګي حالات دي، له هغې ورځې څخه چې دا عملیات پیل شول، د ه یک په ولسوالۍ کې چې کومې مجهزې دلګۍ دي، هغوی په دغو عملیات کې سهم واخسیت، ورسره د شلګر په ولسوالۍ کې چې څومره فعالې او مجهزې دلګۍ دي هغوی په عملیاتو کې سهم واخیست، ورسره اوس د اسلامي امارت لخوا منتظره قطعې جوړې

شوي دي، دلته په غزني کې يې هم هغه ابتدايي مراحل تکميل شوي دي، چې ورسره يې يوه ورځ د ده يک په ولسوالۍ کې او له پرونه راهيسې دلته د شلګر په ولسوالۍ کې زمونږ دقطعې منتظرې قهرمانو مجاهدينو هم په دغو عملياتو کې سهم واخيست چې الحمدلله ډير کاميابه رول يې په کې ولوباوه.

پوښتنه :بله خبره دا چې چون جګړه ده ډيرو شيانوته په کې ضرورت پيښيږي، په دغو دواړو جنګونو کې د مجاهدينو اکمالات څه ډول دي او په سيمو کې د مجاهدينو سره دخلکو همکاري په کومه کچه کې ده؟

ځواب: الحمدلله دخلکو همکاري له تصور څخه پورته ده، په ټولو ورځو کې چې داعملیات روان وو، ولس د اعاشې او اباتې له پلوه له مورږ سره همکاري کړي ده، په مساجدو کې، په لومړۍ کرښه باندې يې د شپې او ورځې سهار او غرمه پخې ډوډۍ مورږ ته راوړلې دي، په دې اړه مورږ له هيڅ تکليف سره نه يو مخ شوي، هم د ده يک په ساحه کې اوهم دلته دشلګر په سيمه کې او دمهماتو له اړخه هم لله الحمد تراوسه پورې مورږ له کومې ستونزې سره نه يو مخ شوي، دا نن چې دښمن د (نورالمدارس) له لورې خپل بريدونه پيل کړل، نو بيا مورږ له مخکې څخه ورته پيش بين وو، نو يو تعدا د کافي مهمات نن په يوه بجه باندې هلته مجاهدينو ته ور ورسيدل، چې له هغو سره يې لاهم روحيه پياوړې شوې، اومورږ په دې باندې مطمين يو چې دوی به يوه لويشت هم مخته رانشي، ان شاءالله او همدا به د دوی د ماتې هغه وروستۍ لحظه وي.

پوښتنه :ډيره مننه والي صاحب ، بله پوښتنه مې داده چې يو شی چې مورږ يې له ډيره وخته د دښمن څخه تجربه لرو،هغه داده کله چې دوی يوځای عمليات پيل کړي، په ډير قوت لاړ شي، بيا دوی هلته دا ډول له ماتې او ناکامۍ سره مخ شي، نو په ناسم ډول د مجاهدينو په اړه د ډيرو درنو تلفاتو راپورونه خپروي، او هڅه کوي چې په مطبوعاتو او رسنيو کې ځان کامياب وښيي او خپلو مشرانو يا امريکايانوته هم ډاډ ورکړي چې ګنې دوي لاسته راوړنې لري، تاسو دغه موضوع څرنګه ارزوئ، آيا دوی به په داسې ادعاوو سره چې ښايي د شلګر د عملياتو په ناکامۍ کې يې هم را پورته کړي او د ډيرو مجاهدينو د تلفاتو خبرونه خپاره کړي، آيا په دې ډول به دښمن وشي کړای خلک تير باسي، يا خپلو مشرانو ته دا اعتماد ورکړي چې په ريښتيا هم دوی بريالي ول؟

ځواب: هوا! امکان دې ولري، دا مطبوعات خو د دوي په واک کې دي، که ستاسو ياد وي تير کال همدا شپې او ورځې دغزني دګيلان په ولسوالۍ کې د دوي لخوا عمليات پيل شول چې لس ورځې يې دوام درلود، په هغو عملياتو کې مورږ دوه نفره مجاهدين شهيدان درلودل، خو دوی د ۷۵ نفرو د شهادت رپوټ خپور کړ، نو دلته دې هم امکان ولري، چې دوی همداسې هڅه وکړي، تراوسه پورې زمونږ د شهيدانو رقم خو مورږ پورته ذکر کړ، نن يا سبا که د دښمن عمليات پای ته رسيږي، نو امکان لري چې دوی زمونږ تلفات زيات وښيي ترڅو خپلو مشرانوته هم روحيه ورکړي، او وښيي چې داده مورږ عمليات په بريالیتو سره پای ته ورسول،نو دا امکان

لري، خو حقيقت ته تغير نشي ورکولای او حقيقت هغه ده چې موږ تاسوته مخکې بيان کړ.

پوښتنه :که راته ووايئ چې دښمن چې د سړکال يا د سړکال په دې موسم کې دا ډول عمليات په مختلفو ولايتو کې پيل کړل او بيا پرلپسې له ناکامۍ سره هم مخ دي، دا په داسې حال کې چې څه موده وروسته د مجاهدينو لخوا پسرلني عمليات پيليدونکي دي، نو څه فکر کوي چې کله مجاهدين عمليات پيلوي او دښمن له هرې خوا له ګوزار سره مخ کوي، نو تيار به دښمن مخکې له وخته ورته کمزورى شوى او بې روحيې شوي نه وي؟

ځواب: ان شاءالله په دې موږ مطمين يو چې دغه ناکام عمليات چې دوی په دغو دوه دريو ولايتونوکې سرته ورسول، دا پخپله د دوي لپاره دناکامۍ او د ماتې يوه نښه ده او ان شاءالله که مجاهدين پسرلني عمليات پيل کوي، زه په دې باوري يم چې په ډير موفقانه شکل سره به تر سره شي، او اميد شته چې ان شاءالله په هغو عملياتو کې به موږ ښې لاسته راوړنې ولرو.

پوښتنه :که د وروستۍ پوښتنې په ډول ووايم په داسې حال کې چې تاسو په غزني کې د دښمن په وړاندې دجګړې قومنده او مسئوليت په غاړه لري، په دې وخت کې د غزني خلکو، ټولو هيوادوالو او په خاص ډول د اسلامي امارت مشرانوته ستاسو پيغام څه دي؟

ځواب: زما پيغام د اسلامي امارت مشرانو ته داده، لکه څرنګه چې يې په دغو ورځو کې دا عملیات په ښه شکل سره رهبري کړل او مجاهدينوته يې ډير ښه اکمالات وکړل، چې په آينده کې هم همداسې توجه ورته وکړي، د افغانستان له عام ولس څخه مو دا توقع ده چې دا ځوارلس کال چې موږ د امريکايانو او دهغو دغلامانو په مقابل کې کوم مقاومت او جهاد وکړ، موږ دا نه وايو چې دا ولس له موږ سره همکار وو، بلکې موږ دا وايو چې دا ولس عملا په دې جهاد کې له موږ سره سهيم وو، نو له دغه عام ولس څخه زموږ دا خواهش ده، لکه څرنګه چې يې دا دومره وخت له موږ سره په جهاد کې عملا سهم اخيستی ده، دغه جهادي فريضه له پامه ونه غورځوي، او هغه عملي ونډه يې چې له موږ سره په جهاد کې اخيستې ده، په را روان کال کې هم چې هغه سهم له موږ سره په جهاد کې واخلي او د غزني ولايت له قهرمان، مخلص او دين دوست ولس نه مو دا توقع ده، چې موږ له دې ولس نه ډير مطمين يو، چې په دا ټولو کړاونو،او په ټولو مشکلاتو کې يې له مجاهدينو سره ډيره زياته همدردي ښودلې ده، له مجاهدينو سره يې عملا ډيره زياته همکاري کړې ده، هم مالي او هم ځاني، نو د را روان کال لپاره هم موږ د غزني له قهرمان ولس څخه دا اميد لرو، چې له موږ سره په جهادي امورو کې هم هغسې همکار پاتې شي، الله جل جلاله دې له موږسره دوی ته سعادت د دارينو نصيب کړي.

ډير مننه کوم والي صاحب چې له جهادي مصروفيت سره سره مو موږ ته خپل قيمتي وخت راکړ.

الله تعالی مو کامياب لره، له تاسو نه هم مننه کوم او دعاګانې کوي. والسلام

مفتي حبيب الله قاسمي

نامتو مسلمان فاتحين

دهرات او بلخ فاتح او نامتو تابعي حضرت احنف بن قيس رحمه الله

زوکړه: ۲ ق هـ - مړينه: ۷۱ هـ ۶۹۱ م)

[٦] :افغانستان ته دحضرت احنف رح راتک

الله پاک پرخرسان ـ اوسني افغانستان ـ باندې دهدايت ستر نعمت لورلی و ، حضرت عمر رضی الله عنه دحضرت احنف رحمه مشوره خوښه کړه . اونوموړي ته په خراسان کې دغزا او نويوفتوحاتو دکولو اجازه ورکړه اودلښکر د مشري توغ يې هم نوموړي ته وروتړاه .

حضرت عمر رضی الله عنه يې مشوره خوښه کړه اوپه ۲۲هـ کال کې يې نوموړي ته همده ته د يزدگر دله منځه ونده وسپارله ، هغه و چې نوموړی د يزدگر په تعقيب پسې دحضرت عمر رضی الله عنه په لارښوونه راغی، هرات اوبلخ يې فتح کړل کندز اوتالقان يې هم فتحه کړل اوپه جنوب کې يې په ۲۴هـ تر ارغنداب پورې سيمې هم فتح کړې. چې فتوحاتويادونه يې په تفصيل سره بيانوو .

[۷]حضرت احنف بن قيس رحمه الله فتوحات

امام ابن کثير رح په ((البدايه والنهايه))۱ او علامه ابن الجوزي په خپل تاريخ ((المنتظم)) دحضرت احنف رح دفتوحاتو داستان او کېسې په تفصيل سره راخېستي چې دلته موږ هم له همدې دواړو تاريخونو څخه دحضرت احنف رح د فتوحاتو تفصيلي يادونه د گرانو لوستونکو مخ ته ږدو .

[۸]حضرت احنف رح په خراسان کې

د بصري والي حضرت ابن عامر۲رضی الله عنه ترڅارنې لاندې حضرت احنف رح ترڅلور زره کسيزه لښکر سره خراسان ته د يزدگر د نيولو په لټون پسې روان شو، حضرت احنف رح چې د خراسان بريدونو ته ورسيده لومړی هرات يې ونيو اوهلته يې صحار بن فلان العبدي، خپل ځای ناستی وټاکه . بيا ((مروه الشاهجان)) ته روان شو چې هلته يزدگر پټ و ، دوه نامتو قوماندانان هريو:((مطرف بن عبد الله)) نيسابور ته او((حارث بن حسان)) يې سرخس ته واستاول اوحضرت احنف رح په خپله ((مروه شاهجان)) ته وخوځيده ، کله چې ښار ته نژدې شو

---

۱ البدايه والنهايه : ۱۰۱/۷

۲ عبدالله بن عامر دفارس اوخراسان فاتح گڼل کيږي ، اودحضرت عثمان رضی الله دترور زوی کيږي ،اوحضرت علی رضی الله عنه به يې زياته ستاينه کوله. دنوموړي پيژندنه به که خدای کول له دې وروسته تاسو ته وليکو .

یزدگر خبر شو نوله هغه ښاره یې ګډه ((مروه رود)) ته بار کړه اوحضرت احنف رح ((مروه شاهجان)) ښار له فتحې وروسته بلخ ته دتګ له پاره تیاری کاوه. دغه مهال یزدگر د ترکانو واکمن ((خاقان)) او دغه راز د((چین)) او ((صغد)) واکمنو ته لیکونه واستول اومرسته یې ورڅخه غوښتله .

[۹]حضرت احنف په بلخ کې

احنف رح له دې وروسته ((مروه رود)) ته په یزدگر پسې روان شو او په ((مروه شاهجان)) کې یې خپل ځای ناستی حارثة بن النعمان پرښود اودغه مهال احنف رح ته له کوفې نور مجاهدین هم راورسیدل ، کله چې یزدگر دمسلمانانودلښکر له راتګ نه خبر شو نو له ((مروه رود)) څخه بلخ ته ولاړ ، اوپه بلخ کې اسلامي لښکر له ده سره خونړی جګړه وکړه اوماتي یې وخوړه اوله هغه ځای په تښتته بریالی شو اوامو درياب څخه پورې ووت اودخراسان پاچا له حضرت احنف رح سره دروغې ټرون وکړ اوپه دهمدې ټرون په رڼاکې حضرت احنف رحمه الله په هرلوی ښار کې خپل والي وټاکه . دغه مهال حضرت احنف رح له بلخ څخه بیرته ((مروه رود)) ته ستون شو اود دغو فتوحاتو په اړه یې حضرت عمر رضی الله عنه ته زیری ورکړ او د فتوحاتو تفصیل یې په لیک کې ورته واستاوه .

[۱۰]حضرت عمر رضی الله عنه ته داحضرت احنف رح له لورې د فتوحاتو زیری

حضرت احنف رح د خپلو فتوحاتو خبر د لیک له لارې حضرت عمر رضی الله عنه ته واستاوه ، حضرت عمر رضی الله عنه د مسلمانانو پر سوبو او بریاووزیات خوښ شو او دلیک په ځواب کې حضرت احنف ته یې داسې لارښوونه ولیکله : ((له امودریابه مه پورې وځه اوس کوشش وکړه هغه ولایتونه ښه وساتې چې تازه دې فتحه کړي دي)).

[۱۱]دخراسان په اړه دحضرت عمر رضی الله عنه اندښنې

دغه مهال حضرت عمر رضی الله عنه وویل : ((کاشکې زمورږ او خراسان ترمنځ داور ستر دریاب(بحر من نار.) وای!! دغه مهال حضرت علي رضی الله عنه ترې وپوښتل :

ولي داسې هیله کوې ای امیرالمومنینه !

حضرت عمر رضی الله عنه : ځکه ددغه وطن خلکو له مورږ سره خپله ژمنه دری ځله ماته کړه اوپه دریم ځل به پرمورږ باندې بریالی شي .

حضرت علي رضی الله عنه: پروا نه کوي که ژمنه ماتوي نودوی به یې ماتوي اودهغې پره خو پرمسلمانانو نه ورځي .

[۱۲] ((په مروه ردو)) کې د یزدگر او اسلامي خونړی جګړه

دیزدگر لیک ته که څه هم دچین اوصغد واکمنو کومه پاملرنه ونه کړه ؛خودخاقان پاچا یې مرسته وکړه او دترکانود لښکر په مرسته بېرته دبلخ دنیولو له پاره له آمو درياب څخه پورې ووت اوبلخ یې بیرته ونیو اودحضرت احنف رح ټاکلی ولیان بیرته ((مروه رود)) ته ستانه شول اوبیا یزدگر له ستر لښکر سره ((مروه رود)) ته ولاړ .او((مروه رود)) یې په دې موخه کلابند کړ چې هغه سترې پاتګې ترې وباسي چې یزدگر هلته خښه کړي وه . اوله پاتګې ترلاسه کولو وروسته بیرته دبلخ پرلوري روان شو او

خاقان ورته په بلخ کې انتظار و اودغه مهال مسلمانان دحضرت احنف رح له وینا سره سم دیزدګر لښکر تعقیب نه کړ .

د مروه رود دکلابندي پرمهال به ترکانو د ورځې پرمسلمان غلچکي بریدونه کول اودشپې به ورک شول او حضرت احنف رح لښکر یې زیاته پرېښانه کړی وو او په دې نه پوهیدل چې دوی دشپې چیرته پټیږي یوه شپه حضرت احنف رح ددوی ځای ته ورغی اودری تنه سپاره ترینه ووژل چې په دې سره ترکان له جنګ لاس واخیست اوبیرته خپل وطن ته ستانه شول .

[۱۳] د یزدګر وروستی ماتې او وروستی برخلیک

مسلمانانوزیاتې ولجې له ترکانوترلاسه کړې اوددغې فتوحاتو زیري حضرت احنف رح مدینې منورې ته واستاوه په لیک په رسیدو حضرت عمر رضی الله عنه په نبوي جومات کې مسلمانانو ته دتل له پاره د فارس دامپراطوري دماتېدا زیری ورکړ .

اوبیاچې کله یزدګر له خاقان سره روانیده خپل قام یې له تګه ایساراواه خویزدګر پرتګ اصرار کاوه اوغوښتل یې چې پانګې له ځان سره یوسي اوپه همدې ورسره دخپل قام شخړه شوه اوله جګړې وروسته یزدګر له کم شمیرکسانوسره فرغانې ته ولاړ اودیزدګر لښکریان ټول حضرت احنف رح ته تسلیم شول او دامن ټرون یې ورسره وکړ .اوزیاتې خزانې یې حضرت احنف رح ته وسپارلې .

یزدګر بیا دحضرت عمر رضی الله عنه دخلافت په زمانه کې هم ژوندی و اودحضرت عثمان رضی الله عنه دخلافت په زمانه کې بیرته داوسني ایران قم ته راغی خوخپل قام بیاوواژه . اومسلمانان یې له غمه دتل له پاره بې غمه شول .۳

[۱۵]حضرت احنف رح دخراسان دوالي په توګه

نامتوسیرت پوهه ابن اسحاق وایي : دخراسان والي حضرت ابن عامر رضی الله عنه له نیساپور څخه دعمرې احرام وتاړه اوپه خراسان کې یې خپل ځای ناستی حضرت احنف رح وټاکه دحضرت ابن عامر رضی الله عنه له تګ وروسته دخراسان خلکو سر پورته کړ اوپه مروه کې سخته خونړی جګړه شوه خو حضرت احنف رح بیاهم ماتې ورکړه.

حضرت ابن عامر رضی الله عنه له عمرې راستون شو نودغه مهال حضرت احنف بیرته حضرت عثمان رضي الله عنه ته ورستون شو.

[۱۷]حضرت احنف بن قیس رحمه الله مړینه

ابن سعد وایي چې : حضرت احنف دحدیثو ډیر کم روایتونه لري او په بصره کې اوسېده ، دژوند په پای کې د عراق د امیر حضرت مصعب بن زبیر رحمه الله دغورځنګ پلوي و واودیوه پلاوی په مشري کوفې ته ورغی و واو دهمدې سفر پرمهال پرکال په ۷۲هـ کې په کوفه کې ومړ . حضرت مصعب رحمه الله یې په مرګ زیات خپه و اود ډیر خپګان له امله له ځادره پرته یې جنازه راوتلی سره له دې چې تردې دمخه نوموړی هېڅکله بې ځادره دباندې راوتلی نه و. یوعالم روایت کا: پرحضرت احنف رح چې خاوري واړول شوې نو قبر یې مور ته دومره پراخ څرګند شو څومره مو سترګو کار کاوه .

[۱۸]حضرت احنف بن قیس رحمه الله غوره:

---

۳ المتنظم : دابن الجوزي : ۲/ ۲۳٦

دحضرت احنف رح ويناوې دکانې کړښې ګڼل کيدلې اوهره وينا يې د متل بڼه لرله ، تردې چې دعربي ادب امام جاحظ يې غوره ويناوې له لقمان حکيم څخه هم پياوړي بولي ،دنومورې دويناوو همدې ارزښت ته په پام سره عربو مورخينو اودعربي ادب نامتو امامانو يې ويناوې په خپلوکتابونوکې خوندي کړي دي ٤دلته د لوستونکو له پاره دنومورې يوڅه ويناوې را آخلو :

لومړی وينا :

- زه دری خويونه لرم چې يوازې يې ستاسو دګټې له پاره درته بيانوم:
- ١ـ زه ددوه کسانو منځ ته دهغوی له بلنې پرته هېڅکله نه يم ورغلی .
- ٢ـ اوهېڅ وخت دواکمنو دروازو دريدلی نه يم
- ٣ـ اونه هم واکمنوته دتمې په خاطر بښکته پورته شوی يم.

دوهمه وينا :

- درونـد سړی هېڅکله درغلی نه کوي او هوښيار سړی هېڅ وخت درواغ نه وايي او مسلمان غيبت نه کوي .

دريمه وينا :

- ټول عمر مې ناستو خلکو ته هغه څوک په ښه خوله ياد کړي چې له مجلسه به يې خدای په امانې واخېستله.

خلورمه وينا :

- زه هغه سړي ته حيران يم چې دمتيازو له ځای پيدا دی او بيا هم غرور اولويي کوي .

پنځمه وينا :

- پرخپلو ناپوهانوپاملرنه اولورينه وکړئ که نه داسې ناوړه کار به ترسره کړي چې تاسو به ور پورې سپک يادشئ اوله ستونزسره به مو لاس وګرايون کړي[٥].

شپږمه وينا :

- يو حضرت احنف رح ته وويل : پلانی سړی دي بد يادوی، ده ورته وويل : شيطاني د ښه سړی کار نه دی .[٦]
- **اومه وينا :** انصاف اشنايي ژغورې اوله خپلوانوسره ښېګڼه او لورينه مينه زياتوي.

اتمه وينا :

- سړي يتوب دادچې: خپل راز وساتئ او بل ته زيان ونه رسوئ. [٧]

---

٤ علامه زرکلي رح دخپل کتاب الاعلام دلومړي ټوک د ٢٧٧ مخ په لمن ليک کې کاږي : داحنف رح ويناوې اوګټورې خبرې د تاريخ او ادب په کتابونوکې خورې ورې دي ،کاشکې څوک يې راټولې کړي ،عبد العزيز بن يحيى الجلودي داحنف کېسې او پېښې راټولې کړي دي ، مايې هم ژوند پېښې او ويناوې راټولې کړي دي او په زړه کې مې دي چې که خدای توفيق راکړ ؛ نو يوښه کتاب به ترې جوړوم .

٥ وفيات الاعيان دابن خلکان ؛٢/ ٥٠٥

٦ دابن عساکر د د مشق تاريخ ؛ ٢٤/ ٣٣٧

نهمه وینا :

- بدنیتی (حاسد) سړی به آرامه ورځ ونه وینې . درواغجن سړي ټیکه (ټیکاو)نه لري،دوه مخه سړی ژمن (وفادار) نه وي ،له بخیل سړي څخه په چل هم روپۍ نه اېستل کیږي ، اوبدخویه سړی به بریا په سترګو هم ونه وینې .[8]

لسمه وینا :

- حضرت احنف رح به په سپین ګیرتوب کې روژه نېوله چاورته وویل : اوس سپین ګیری یې روژه مه نېسه بیادې کمزوری کوي : ده ورته ویل : زه یوه اوږده سفر پرې چمتو والی نېسم .

یولسمه وینا :

- څلوېښت کاله وشول چې دایوه سترګه مې وتلې خوترواسه مې چاته ګیله (شکایت) نه دی کړی .

دولسمه وینا :

- سینه مې پراخه نه ده ؛ خو له زغمه کار اخلم.

دیارلسمه وینا :

- چاترې وپوښتل: دقام مشرې دې په څه حکمت وساتله؟ ده وویل : پرهغه څه به مې کار نه لاره چې ورسره کار به مې نه و .

څورالسمه وینا :

- څوک چې دخلکو په هغو کارونو ګوتې وهي چې خلک پرې خپه کیږي نوخلک به له ځان پکې خبرې کوي .

پنځلسمه وینا :

- له وړې سره له مرېښت دمخه مشوره مه کوئ اودغه راز له ټرې سره له څښاک دمخه اوله بندي سره ترخلاصون دمخه او له ټنګلاسي سره له پراخي دمخه او له هیلمن سره
- دهیلو تربشپړیدو دمخه مشوره مه کوه.
- له شک پرته دحضرت احنف رحمه الله دخواږیو له برکته زموږ د هېواد په شمال کې دلومړي ځل له پاره داسلام بلنه خپره شوه اوپه دې فتوحاتو دبصرې دوالي اودخراسان دفاتح حضرت عامر رضی الله عنه ستر لاس و، له همدې املـه بـه لـه دې وروسته به دنوموړي پېژندنه تاسو ګرانو لوستونکوته وړاندې کړو .



---

۷ دامام ذهبي سير اعلام النبلاء : ٤ / ٩٣

۸ دامام ذهبي تاريخ الاسلام : ٢/ ٧٧٩

خوشیې له خپل ولس سره

ذبیح الله مجاهد

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

احمدضیاء احمدي یم له کابل پوهنتون څخه.

پوښتنه مې داده چې دکابل اداري مشران اشرف غني او عبدالله له خپلې اویا کسیزې ډلې سره امریکاته لاړل، له اوباما سره یې وکتل، دخپلې اداري د فعالیت راپور یې ورکړ، او له امریکایانو څخه یې وغوښتل چې هغوی خپل عسکر ژر له افغانستان څخه ونه باسي، اوباما هم ومنله چې لږ تر لږه به د سږکال تر پایه دخپلو عسکرو شمیره پخپل حال پریږدي، له اشرف غني سره یې د ۸۰۰ میلیونو ډالرو فوق العاده مرسته اعلان هم وکړه، تاسو دې ټګ او وعدو او خبروته په څه نظر ګورئ؟

ځواب :

وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته!

له پوښتنې مو منته کوم، دلته څو ټکي د پام وړدي، یو خو داچې د کابل اداري یو مشر-امریکاته نه ده تللې بلکې دوه غبرګ مشران چې دواړه ځانونه د موازي واک خاوندان بولي، امریکاته ورغلل، چې داکار د کابل اداري حیثیت پخپله له منځه وړي، نړیوالوته څرګندوي چې دوی په افغانستان کې ناکام وو، څکه په یو ملک کې دوه واکمنه ټاکل هیڅ سالم منطق هم نشي منلی، داچې د امریکایانو د هڅو په پایله کې دغه ډول یو نظام منځته راغلی پخپله د ناکامی علامه او د امریکا او کابل اداري دواړو لپاره د خجالت خبره ده .

په دې سفر کې تر اویاوو پورې کسان تللي داهم د غبرګو مشرانو د اختلاف او ۵۰٪، ۵۰ ٪ تقسیم بندی له امله ده، څکه که په پلان کې وو چې باید ۳۵ نفره په دې سفر کې وڼده واخلي نو ددواړو مشرانو ۳۵، ۳۵ کسانو تګ پخپله اویاووته خبره ورسوله چې داهم د کابل اداري لپاره شرم ځای ده.

داچې اشرف غني امریکاته ورځي او دخپلې نیمګړې او مړژواندې اداري راپور ورکوي، داخبره جوتوي چې دا اداره اصلا دامریکایانو په لاس کې اداره ده، صرف په ظاهرکې څو تنه افغان نما اشخاص په ځوکیو لیدل کیږي چې په واقعیت کې دوی دلته د امریکایي ماموریت په بشپړیدو مکلف دی، دهغو لپاره کار کوي، معاشونه هغوی ورکوي، لاري چاري هغوی ورته ښیي، ساتنه یې هغوی کوي، او د راتلونکې لپاره لارښونه هغوی ورته کوي چې داکار د کابل اداري د په اصطلاح مشرانو بې

واکی او دپردو په خدمت کې بوختیدا لا ډیره روښانه کوي، دلته یوه بله د شرم خبره دا ده کله چې اشرف غني له کابل څخه د امریکا په لور په حرکت کې شو، نو یې دخپلو ۱۶ نویو وزیرانو لست پارلمان ته معرفي کړ، چې په هغو کې د دفاع وزیر نه وو معرفی شوی، دکره معلوماتو په اساس داسې تصمیم وو چې دافغانستان لپاره دفاع وزیر باید د اوباما، د امریکا د دفاع وزارت پنټاګون او (CIA) سره لـه نیږدې مشورې وروسته معرفي او تعین شي، څکه امریکایان غواړي چې دافغانستان نظامي وضعیت لـه نیږدې وڅاري اوداسې څوک یې په رأس کې راشي چې هغه د امریکایي ګټوته ښه ساتونکي او دهغوی لپاره ښه فرمان برداره وي، تر څو په دې لاره کې د افغانانو وژل او څوروړ ورته هیڅ اهمیت هم ونه لري.

پورته حقایقوته په کتو امریکاته په همدې روحیه د اشرف غني ورتګ د کابل اداري پردی توب لا ډیر برینډ کړ، اوداخبره یې روښانه کړه چې د اشرف غني اداره د کرزي لـه اداري څخه ډیره د امریکا لپاره مخلصه ده، څکه اشرف غنی د امریکانو لپاره نظري روزل شوي لاسپوڅی ده.

ورسره دا موضـوع چـې اشرف غنـي لـه امریکایانو غواړي چې خپل عسکر ژر لـه افغانستان څخه ونه باسي، څو خبرې ښکاره کوي:

یوه داچې الحمدلله مجاهدین په افغانستان کې دبل هروخت په تناسب ډیر قوي او فعال شوي چې دا حقیقت اشرف غني ته دخپل واک په دا لږ موده کې څرګند شوی او هغه درک کړی ده، نو یې فکر وکړ که امریکایي عسکر لـه افغانستان څخه وځي، دوی په ډاګ پاتې کیږي اود ملت له محاسبې سره به مخ کیږي.

بلـه دا روښانه شـوه چې دکابـل اداره چې په خوله باندې د سولې او پـه افغانسـتان کـې د جنـګ د خـاتمې خـبرې کـوي داهسـې دخـولې خـبرې دي، څکـه د امریکایـانو شـتون چـې د ټولـو بـدمرغیو سر دی، د افغانستان داشغال پیل له همدې نقطې شـوي، او د مجاهدینو اساسي غوښتنه هم د اشـغال د هـرډول دپای ته رسول دي، دا خبره اشرف غني عملا له پامـه غورځوي، او دافغانستان دخلکـو دغوښـتنو پـرخلاف دریځ نیسي چې داکـار د جګړې د اوږدیـدو لامـل ګرځي او د کابل اداري دوه مخیتـوب ښـیي او ورسره دهغو د غلط سیاست څخه یې پرده پورته کوي.

داکه دکال ترپایه یا تر بـل کالـه هـم امریکـایي ځواکونه په افغانستان کې پاتې شي، لکـه چې اوبامـا هـم ومنلـه چـې د سـږکال ترپایـه بـه دخپلـو ۹۸۰۰ عسـکرو شـمیر نـه کمـوي، دا د امریکـا لخـوا هـم د جنګ غوښـتنې او داشـغال د اوږدیـدو نیـت ښـکاره کوي، مورږ مخکې ویلي چې ترڅو دجهاد او نظـامي ځواک فشـار نـه وي، نـه امریکایـان پـه خپلـه خوښـه غواړي چې دافغانستان لـه اشـغال څخه لاس واخـلي اونـه هـم د کابـل لاسـپوڅي اداره غـواړي چـې دافغانسـتان اشـغال پـای تـه ورسـیږي، څکـه د دواړو خواوو ګټې د افغانستان په اشغال کـې دي، امریکابـه دافغانسـتان داشـغال لـه لاړې خپلـې منطقـوي ګټـې پالي، روسان بـه تهدیـدوي، ایران تـه بـه سرخـوړي جوړوي، چین ته به په بـالقوه توګـه د خطـر څراغونـه روښانه کـوي، پاکسـتان بـه تـر خپـل نظـارت لانـدې

ساتي او د منځنۍ اسيا د نفتو او غازو زخيرو ته به دځان رسول آسانه کوي.

دکابل اداري د غړو او افرادو سياسي ژوند هم په امريکايي ډالرو او دهغو دعسکرو د بمبار، بريدونو او وژنو د دوام پورې تړلی دی، ځکه دوی د ملت لخوا منفور دي او که د امريکا سيوری يې له سره لرې شي، دوی بيا افغان ملت ته ورپاتې شول، طبعادهغوی له محاسبې سره به مخ کيږي، او داخبره دوی درک کړی ده.

د ۸۰۰ ميليونه ډالرو د مرستو اعلان چې دوی يې مشوقې مرستې بولي، هم يې اغيزې دي، ستاسو به يادوي دلته په ميلياردونه ډالر راغلل خو الحمدلله مطلوب ځای يې نه ده نيولی، نو ۸۰۰ ميليونه نور ډالره هم ۸۰۰ نورې لارې پيدا کوي، لومړی دغه مرستې مخامخ دکابل ادار په واک کې نه ورکول کيږي، بلکې د امريکايانو په لاس به مصرفيږي، هغوی بيرته خپل لوړ ډالري معاشونه ترې پوره کوي، رشوتونه او وندونه ترې وهي، همدا راز که چيرې دا پيسې د کابل اداري چارواکوته هم په لاس کې ورکړل شی هغوی به هم خپله، خپله برخه په هره اداره کې ترې غلا کړي چې اصلي درد به يې دوا نشی کړای، بلکې بيرته به د خو تنو شخصي-جيبونه ډک کړي بس.

بله اساسي خبره داده چې موږ گورو دکابل اداره ورځ په ورځ له اقتصادي ناورين سره مخ کيږي، بهرنيان هم دوی ترقيامته نشي-چلولی، ځکه هغوی هم جگړو ځپلي دي او پخپله له اقتصادي مشکلاتو سره لاس او گريوان دي، نو يوځل مرستې دوه څله مرستې به وکړي خو تر آخره يې نشي-کولای.

راځم آخرې خبرې ته چې د امريکايي زرو يا لسو زرو عسکرو يوکال يا دوه کاله پاتې کيدل نشي-کولای دافغان ميړني ولس د مبارزې مخه ونيسی، ځکه تاسو شاهدان ياست چې په يولک عسکرو يې پوره ۱۳کاله څه ونشو کړای، نو په لس زرو به څه وکړي؟ څرنگ يې چې په تيرو ۱۳ کلونوکې له قوي اقتصاد، قوي تکنالوژی مدرنووسلو سره ماتې وخوړه، په دا اخيره کې د لسو زرو يا پنځو زرو عسکرو په مټ نشي کولای چې افغانستان خپل کړي او اشغاگرانه موخو ته ځان ورسوي، تاسوبه گورئ چې سږ کال به ان شاءالله مجاهدين دلويو بريو شاهدان وي، ملت نور آزادیږي، هيواد به آزاديږي که غلامان يا يې امريکايان غواړي او که يې نه غواړي داخبره حتمي ده او راتلونکی به دا خبره په ثبوت ورسوي، ځکه اوسنی وضيعت د پخوانيو کمونستان د ماتې او رسوايي ورځوته ورته حالت ته ورته ده، چې ننني غلامان به د تاريخ په حکم د پرونيو غلامانو په لاره ځي او د الله په نصرت سره به دا ملت يوځل بياهم په ويشتمه پيړۍ کې د آزادۍ او بريالیتوب وروستي بيرغ په لاس کې لري.

ان شاءالله.

د لښکر قومندان ته د لومړي راشد خليفه سيدنا حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه توصيه!

خالد حسن

حضـرت ابـو بکرصـديق رضی الله عنه له حضرت اسامه رضی الله عنه سره پيـاده روان ؤ ، هغـه تـه يـې لانـدي قيمتـي نصـيحتونه کول؛چـه تـر نـن ورځـي پـوري د سـر لښکر ، نظامي قومنـدان او اسـلامي تـاريخ لپـاره يادګاري حيثيت لري.

ژباړه : ای خلکو ودريږئ! زه تاسو ته د لسو خبرو نصيحت کوم،دا له ماڅخه ښې يادي کړئ.

۱ -خيانت او بې ايماني مه کوئ.

۲ -دوکه مه ور کوئ.

۳ -د چـا لاس پښـې ، او د جسـم نـور اندامونه مه(مثله)پريکوئ.

۴ -کوچنی ، ماشوم، سپين ږيری سړی،او ښځه مه قتلوئ.

۵ -د کجـورو ونـې مـه کـاږئ ،مـه يـې سوځوئ.

۶ -ميوه داره ونه مه پريکوئ.

۷ -له خوراک څخه عـلاوه ، ميږه ، غـوا ، اوښ مه حلالوئ.

۸ -تاسي ته به ډير داسي خلک په مخه در شـي،تيريده بـه پـرې وکړئ،چـه ځانونـه بـه يـې د عبادت لپاره فارغ کړي وي،هغوی به په خپل حال پريږدئ.

۹ -تاسـي تـه بـه داسـي خلـک هـم در مخـامخ شـي، چـه ډول ډول خواړه بـه پـه لوښـو کښـې مختـه در تـه کيږدي،کلـه چه يو يو خوراک خورئ،د الله ج نوم ور باندي يادوئ،يعني د نعمتونـو پـه لېدلو سره خپل رب مه هيروئ،شکر يې ادا کوئ.

۱۰ -او تاسـو تـه بـه داسـي خلـک هـم در مخامخ شـي،چه د سـر ويښـتان بـه يـې د سـر پـه منځ کښې خريلي وي،نور به يـې د پګړۍ د ولـه غونديِ پرې ايښي وي،دغه به په خپلو تـورو سـره نرم ووهـئ؛د تأديـب لپـاره سـزا ورکـوئ؛ دخـدای جل جلاله په نامه سره روان شئ،خدای پـاک مـو د دښـمن لـه نيـزو او دطـاعون لـه بيمـاری څخـه وژغوره.

دا هغه متبرک نصيحتونه وو،چې د اسـلام په جنګي قانون کې د اصولو درجه لري،د اسلام د جهادي لښکرو قومنـدانانو د تـل لپـاره ور بانـدي تمسک کړئ؛د خپلو کاميابيو راز يې ددې اصـولو پـه پلـي کولـو کښـې ليـدلی،خپل مجاهـدين او ماتحـت يې پـه دې مکلـف کـړي ، چـه د الـه ج رضـا او مرسـته بـه د پورتنيـو مبارکو توصـيو پـه عملي کولو سره ترلاسه کيږي.

دیمن دروان حالت خطرناک اړخونه

او داسلامي نړۍ مسئولیت

حسن زوی

په یمن کې پرحوثي باغیانو دسعودي عربستان په مشرۍ کې دعربوداتحادهوایې حملې چې دمارچ په ۲۵ مې نېټې پیل شوې وې لاهم په داسې حال کې روانې دي چې حوثي باغیان دپلازمېنې صنعاء نه دعدن پرلوردپرمختګ په حال کې دي اولا هم سعودي عربستان ته اخطارونه ورکودي ؛ دنړیوالورسنیو له لورې دورکړل شویو راپورونوله مخې په جنوبي ولایت شبوه اوشمالي ولایت صعده کې دحوثي باغیانوپه مرکزونو دسعودي په مشرۍ کې داتحادي طیاروپه نویوهوایې بریدونوکې په ګڼې شمېرې کې باغیان وژل شویدي ؛ په شبوه کې دحوثي باغیانو اومسلحو ولسي وګړوترمنځ دسختونښتو درامنځته کېدو خبرونه هم ورکړل شویدي چې پکې دواړو اړخونوته دمرګ ژوبلې خبرونه ورکړل سویدي خوبیاهم دحوثي باغیانودپرمختګ مخه نده نیول شوی اولاهم پرمخ روان دي .

ددې حملوپه اړه دامریکا دباندنیوچارو وزارت سعودي عربستان ته دمشورو، داهدافو په نښه کولو،داستخباراتي معلوماتودشریکولو، اولوجستیکي مرستو وړاندیز کړیدی ؛ برتانې پرځای عمل ګڼلی دی؛مسلمانوزیاتروهېوادونویې حمایت کړیدي ځینوچوپتیا غوره کړیده خوایران داحملې په سختوټکوغندلی دي ؛ دایران دبادنیوچارو وزیرمحمدجودظریف ویلي دي : داحملې دامریکا جارحیت دی اوژرترژره باید بندی شي ؛ هغه په امریکا اودسیمې هېوادونوغږ کړیدی چې دخام فکر نه دې کار نه اخلي اوپدې لوبې کې دې دراداخلېدو هڅې نه کوي ؛دنړۍ کمو اسلامي هېوادونو دیمن ټولواړخونو ته په خپلومنځونوکې دکېناستلو اودخبرو له لارې دمسئلې دحل کولوبلنه ورکړیده .

یمن په لویدیځې آسیا کې پروت دمنځني ختیځ مشهور مسلمان هېواد دی ؛ شمال ته یې سعودي عربستان او شرق ته

يې عمان پراته دي ؛ جنوب ته يې دعربو بحيره ده اوغرب ته يې سره بحيره اودعدن خليج دی ؛ عربي يې ملي ژبه ده اوپلازمېنه يې صنعاء ده ؛ ۵۲۷۹۶۸ کيلومترمربع مساحت لري او په ۲۰۰۷ م کال کې دترسره شويو سرشمېرو له مخې ددې هېواد نفوس له ۲۰ مليونو نه اوړېدلی و ؛اوس ويل کېږي چې ددې هېوادنفوس ۳۰ مليونو ته رسېږي .

يمن په منځنۍ ختيځ کې پروت دی خودمنځنۍ ختيځ دنوروهېوادونوپه څېرېدای هېواد ندی بلکې دنړۍ په غريبو هېوادونوکې داسې غريب هېواد چې دولت يې دبل چاله مرستو پرته نه شي چلېدای نوهرڅوک پوهېږي چې په داسې يوغريب هېوادکې يواځې ديوې قبيلې سره تړاولرونکې ډله دبل چا له مرستوپرته ددولت پر ضد يولوی حرکت نشي رامنځته کولای ؛نه يې په لږوخت کې منظم کولای اوپه داسې تېزۍ مخ په وړاندې بوتللای شي چې دتولې نړۍ توجوځانته راجلب کړي او د دولت درنګولوترحده ځواکمن شي.

نوځرګنده ده چې د حوثي باغيانوپه راپورته کولو ،مسلح کولو، منظم کولو اوپه لاس يې ددولت ړنګولوکې نورلاسونه ککړدي ؛ څه دپردې شاته اوڅه دپردې مخې ته ؛ دپردې ترشاچې کوم لاسونه دي هغه لاسونه اوس همداسې شاته پاتې او يواځې هماغه لاس يادېږي کوم چې دپردې مخې دی چې دادايران لاس دی ؛له دوه درې هېوادونوپرته کابوټوله عربي نړۍ پدې عقيده ده اوپه يوه خوله داوايې چې حوثي شيعه ګان ايران راپاڅولي؛ تمويل کړيې دي دايران په لمسون يې په صنعاء حمله وکړه ؛ اوداچې دايران بيرغونه يې پورته کړي وو نودلته يې هم دشام په څېر ديوستر ناورين رامنځته کېدلوته لار برابره کړه .

اودايواځې عربي نړۍ نده چې دايران نوم اخلي بلکې ديمن دولت هم دځو کلونو راهيسې په مسلسل ډول ايران ديمن په داخلي چاروکې په لاسوهنې تورنوي او وايې چې ايران حوثي قبيله ددولت پرضد پاڅون ته هڅوي او غواړي چې ديمن اداره ړنګه او پرځای يې حوثيان واک ته ورسېږي ترڅو ايران پدې هېواد کې دخپلې خوښې حکومت له لارې په سيمې کې خپل نفوذ زيات او بې شميره ستړي مادي ګټې ترلاسه کړي.

ديمن دولت دا هم ويلي و چې دولسمشر له لورې صدراعظمې ته نومول شوی بن مبارک حوثيانو نه بلکې ايران مسترد کړ.

ايران به په تېرو وختونو کې ديمن ددولت تورونوته چندان توجو نه کوله خواوس چې

حوثیانوصنعاء قبضه کړه اوپرایران له هرلورې دیمن په داخلي چاروکې دلاسوهنې نیوکې کېږي اونړۍ په یوه خوله وایې چې ددې هرڅه ترشادایران لاس دی نو ایران اوس داتورونه ردکړیدي خواوس یې ردېدل ځکه ډېرګټور اودنړیوالو لپاره دمنلو وړندي چې په ټېرو وختونو کې تهران ښه په ښکاره دیمن دتجزیې او په جنوبي یمن کې دحوثیانو دخپلواک دولت جوړېدلو حمایت کړیدی.

اصل خبره داده چې دمنځني ختیځ په اړه چې دایران دپالیسۍ کوم تسلسل دی ایران یې پټ ساتل اړین ندي ګڼلي اونه یې دپټ ساتلوهڅې کړیدي ځکه چې دمنځني ختیځ دکوم هېواد پروانه ساتي اونه یې په نظامي لحاظ دځان سیال بولي اونوره نړۍ یې ددې تسلسل دجاري ساتلو طرفداره ده یا لږترلږه مخالفت یې نه کوي .

په څوورووستیو میاشتو کې چې حوثي باغیانو په یمن کې پرمختګونه وکړل اوپه شمالي برخوکې یې دایران بیرغونه پورته کړل نوځوځلې دایراني مشرانو له خولو نه په ډېرافتخارداخبره راووتله چې دبغداد ،دمشق اوبیروت نه پس اوس صنعاء هم زمور دنفوذ سیمه وګرځېدله ؛ څو ورځې وړاندې خودعلی یونسي په نوم دایران یوپخواني وزیرپه تهران کې یوسیمینارته دویناپرمهال تردې حده وړاندې ولاړ چې ویې ویل ,,تول منځنۍ ختیځ زمورډنفوذ سیمه ده اومور دشرقي رومیانو، عثماني ترکانواوعربو سلفیانوسره په یو وخت کې دجنګ کولو توان لرو ''

ایران چې په عربي هېوادونوکې یې اوس نفوذ زیات شوی اوځان پکې تربل هروخت زیات پیاوړی محسوسوي نوشنونکي پرځای وایې چې په عربي نړۍ کې داوسنیو ګډوډیوتوله ګټه امریکاته رسېږي خودامریکا نه پس چې تړې ترټولوزیاته ګټه پورته کړه هغه ایران دی ځکه چې دجنګونواوګډوډیوپه نتیجه کې دسیمې دهېوادونودکمزوري کېدلوله املې ایران اوس دپېړیوپخواني دفارس دسلطنت دبیا احیاخوښونه ویني اوپه رومبي ځل ناعربي قوم ؛ بل هېواد اوبل تهذیب (ایران) دعراق ،شام ،لبنان اویمن په څېرمشهورو عربي سیمو کې ترسترګو کېږي .

داهماغه سیاست دی چې له ټېروکابو ۴ لسیزونه ایران په ټول منځني ختیځ کې په کاراچولی دی ؛هغه مهال چې په ایران کې دخميني انقلاب کامیاب اوداخوندانوپه لاس دلویدیځ پلوي رضاشاه پهلوي اداره ړنګه شوه نودنړۍ ډېری مسلمانان پرې له دې املې خوشاله ووچې په نړیوالې سطحه

داسلام اوسیکولرزم یامذهبیتوب اولامذهبیت ترمنځ په روان کشمکش کې دادلبرالزم اوسیکولرزم شکست اودمذهبیتوب کامیابي وه ؛ اودایران په څېرداسلامي نړۍ په یومهم هېوادکې چې فحاشي اوبې دیني پکې اوج ته رسېدلې وه ددې انقلاب دبریالیتوب نه پس پکې داسلامي اصولوسره سم دنظام نافذولو وعدو اوهیلو رامخې ته کېدل دمسلمانانو دخوښۍ بل سبب و. دنړۍ دمسلمانانو خوښي اوهیله مندي پرځای ځکه وه چې دا انقلاب اسلامي انقلاب ګنل کېدلواو قیادت یې دهغه اخوندانوپه لاس کې وچې په مخونویې ږیرې اوپه په سرونویې پګړۍ وې اووخت هم هغه وخت وچې دشیعه اوسني ترمنځ منافرتونه نه وواوکم سنیان دشیعه ګانودعقایدونه خبروو.

خبره یواځې دعاموسلمانانودخوښۍ نه وه بلکې په اسلامي نړۍ کې هغه نهضتونه چې داسلامي نظام دنفاذ لپاره یې هڅې کولې ددې انقلاب کامیابي یې دځان کامیابي ګڼله اوورسره یې دا هیلې ترلې وې چې په نړۍ کې به یې یواځنی ملاتړی هېواد همداوي خومتأسفانه چې داهیلې دېرژرهغه مهال په ناهیلې بدلې شوې چې کله دانقلاب قائدینودخپل نفوذ لاندې دتولې سیمې دراوستلو اودسیمې په هېوادونوکې ددولتونوپرضد دشیعه ګانو دراپورته کولواوپرواک یې دمسلط کولولپاره عملي اقدامات پیل کړل اوخلکوته داخبره واضحه شوه چې دا انقلاب په نوم اسلامي وخوپه حقیقت کې شیعه انقلاب واوهدف یې هم یواځې دشیعه ګانوځواکمن کول ووچې دعراق اوایران ۸ کلن اوږد اوتباه کونکی جنګ یې له حتمي بدونتایجو څخه یوه وه.

داسمه ده چې دایران اوعراق جنګ په رامنځته کېدوکې دامریکالوی لاس واوصدام چې کوم اقدامات کړي ووامریکا په لمسون به یې کړي ووخودابایدومنل شي چې دجنګ درامنځته کېدومحرکات په عراق نه بلکې ایران کې وو؛ دانقلاب دبریالیتوب نه پس به ښه په جهردانقلاب قائدینو ویل چې په عراق کې دشیعه ګانواکثریت دی نوحکومت هم پکې باید دشیعه ګانووي ؛ دایران دا اظهارات دیپلوماسۍ په دګرکې دېره لویه بې اصولي اودګاونډي هېواد په داخلي چاروکې بربنډ ه مداخله وه خوایران یې دبدوپایلو په اړه هیڅکله ځان مسئول ګانه اونه یې چانه داحق ورکولوچې ددې مداخلې په اړه ورنه وپوښتي چې ددې مداخلې حق چاورکړی؟

دعراق پرواک چې دشیعه ګانو مسلط کول دایران هدف واوداهدف یې چې بیا یوه

نیمه لسیزه پس د امریکادهغه اشغال له لارې پوره کېدلوچې په نتیجه کې یې یونیم میلیون مسلمانان شهیدان شول ؛عراق په کنډوالی بدل شو ملي زېرمې یې لوټ شوې عراق په کورني جنګ اخته شو، نوایران دخپلووفاداروشیعه ګانوله لارې ښه په نره ددې اشغال مرسته اوحمایت وکړ؛ ایران به چې امریکا خپل ازلي دښمن ګڼلوهغه ټولې خبرې یې شاته کړی اودمرګ برامریکاټولې نارې یې هېرې کړې ؛ نن هم دامریکاله لورې پرعراق دمسلطې کړی شوی لاسپوڅې اداري ترټولوزیات دوست اوحامي هېواد ایران دی ؛ایران دعراق پدې لاسپوڅې؛ ظالمې اوفاسدې اداري کې څه خوبي ویني چې په دومره اخلاص یې ترڅنګ ولاړ دی ؟ بل هیڅ نه! یواځې داچې واک پکې ټول دشیعه ګانوسره دی اوسنیان پکې په بې ساري ډول دظلم اووحشت ښکاردي .

په عراق کې دشیعه ګانواکثریت دی نوپکې دسنیانوواکمني ایران ته دزغم وړنه وه خوپه سوریې کې چې دسنیانو قاطع اکثریت دی سنیان نه یواځې داچې ایران یې دواک حقدارنه ګڼي بلکې په مقابل کې یې داسددهغه رژیم په کلکه حمایت کوي چې دسنیانو داسې قتل عام یې وکړچې ترکیمیاوي موادو پورې یې پرې وکاروله اوددوئ ټولې سیمې یې په کنډوالوبدلې کړې اوکابوټول یې دخپلوسیمونه ګډې کولوته اړکړل؛ایران داسدي رژیم حمایت ځکه کوي چې اسدیان شیعه ګان دي حال داچې اسدیان دنصیریې فرقې سره تړاولرونکي په عقیدوي لحاظ داسې خراب شیعه ګان دي چې دنړۍ نورشیعه ګان یې هم مسلمانان نه بولي .

دزیدي شیعه عبدالله صالح ۳۳کلنه اداره خوخالصه یوه لوټماره اداره وه خو ورپسې دسني ولسمشرعبدربه منصورهادي اداره فسادنه ډکه او دولس دحمایت نه دبې برخېتوب له امله یوه کمزورې اداره وه ؛ حوثي قبیلې ددې اداري دکمزورۍ نه په استفادې دتېرکال په اګست کې ددولت پرضدپاڅون وکړ اوپه لږوخت کې داپاڅون دومره قوي شوچې په ستمبرکې دصنعاء اوڅو نورونښارونوترڅنګ دالحدیده نومي ساحلي ښارپه نیولووتوانېدل نودسعودي دولت یې ډېراندېښمن کړ .

پدې ښار کې دسمندري ځواکونو یوه اډه،یو هوائي ډګر او دالحدیده بندر هم دوئ ترخپلې قبضې لاندې راوست.

دبحراحمر په څنډه پروت الحدیده ښار ددې ترڅنګ چې دیمن په سترو ښارونو کې شمېرل کېږي ډېر ستر ستراتیجیک اهمیت

هم لري؛دنفوسو شمېر يې ۲ ميليونو ته رسېږي ؛ دلته دهوائې ډګر او دسمندري ځواکونو ستره اډه شتون لري ؛ دسعودي عربستان سرحد ته ډېر څېرمه پروت دی او بندر يې دعدن دبندر نه پس ترټولو ستر بندر دی.

حوثي باغيانو دا ښار په ډېرې اسانۍ ونيولو او پرضد يې دفوځ يا دښار د اوسېدونکو له لورې هيڅ مقاومت ونه شو ځکه چې ولسمشر عبدربه امر کړی و چې دحوثيانو پرضد دې ولس او فوځ دوسلوال مقاومت نه ډډه وکړي.

همدې دمقاومت نه شتون حوثيان ډېر زړور کړيدي نو ځکه يې دالحديده دنيولو نه پس اعلان وکړ چې ډېر ژر به مخ په وړاندې ولاړ شي؛ددې اعلان نه پس يې دسعودي عربستان دسرحد پرلور پرمختګ پيل او دسعودي عربستان پولې ته څېرمه حرض نومې سرحدي عسکري مرکز يې په ډېرې اسانۍ له فوځي ځواکونو نه ونيو لو.

دالحديده دنيولوسره يوځای دخليجي هيوادونو او منځنۍ ختيځ دچارو پوهانو داويل شروع کړل چې الحديده ته دحوثيانو دتوجو او دبحراحمر دبندرونو دنيولو دهڅو نه داسې ښکاري چې دسنجول شوي پلان او دوئ ته دورکړل شوي پروګرام له مخې حوثي باغيان غواړي چې دبين المللي تجارت خو راډېره مهمه سمندري لار باب المندب هم ترخپلې قبضې لاندې راولي.

په باب المندب دحوثيانو دقبضې راتلل ايران ته ډېره ستره ګټه رسوي نو ځکه زياتره شنونکي وايې چې دحوثيانو وروستني اقدامات ددوئ په خپلې ارادې نه بلکې دايران په لمسون او دايران له لورې دورکړل شوي پروګرام له مخې شوي.

ځه وايم چې دحوثي شيعه ګانو نه دايران له حمايت نه هم انکارنه شي کېدای خوياوځې دايران په ډاډ حوثيانو دومره ستراوخطرناک اقدامات نه شول کولای کوم يې چې وکړل ؛ دحوثيانوسره اصل ډاډ دامريکا دی ؛ دافغانستان اوعراق په شمول چې امريکا داسلامي نړۍ په هرې برخې يرغل کړيدی نونه يواځې داچې شيعه ګانويې پرضد وسله نده راپورته کړی بلکې دامريکا سره اوړه په اوړه ودرېدلي هم دي چې دې کارامريکاته داپېغام ورکړيدی چې ګټې يې يواځې دشيعه ګانوواک ته درسولوپه صورت کې خوندي پاتې کېدای شي نوځکه اوس په عربي نړۍ کې ټولې نښې داسې ښکاري چې امريکا پر عربي نړۍ څومره چې کېدای شي دشيعه ګانو مسلط کول غواړي ؛ نودلته به هم زومبی داکوښښ وکړي چې حوثي

شیعه ګان واک ته ورسوي خوداکاربه ورته ځکه اسان نه وي چې دحوثیانو فیصدي پدې هېواد کې له ۳۰ نه اوړي نودوهم پراوکې به یې هڅې دا وي چې دهېواد دزېرمو غني جنوبي اوشرقي برخو دجدا کولواوپکې دحوثیانو دولت جوړولوته لاربرابره کړي .

شایدخلکو سره به داسوالونه پیداکېږي چې حوثیان که ایران ته وفادار وي نوترشا یې دامریکالاس څرنګه کېدای شي او په وجود کې یې دامریکا ګټې څرنګه خوندي کېدای شي ؟

خوداسوالونه ځکه دتوجو وړندي چې داضروري نده چې هرځای کې دې دایران اوامریکا ګټې په ټکر وي ؛ لکه په عراق کې چې ددواړوګټې په ټکرکې نه وي اوصدام حسین ددواړوشریک دښمن واودواړو یې په له منځه تللوکې خپلې ګټې لیدلې نوپه عراق کې دیوبل معاونین وو ؛ دلته هم چې القاعده دواړه خپل مشترک دښمن ګڼي اوحوثیان ترالقاعدې غوره بولي نویوبه دبل معاونت کوي ، نه مخالفت.

کابو ۳ میاشتې دمخه دسي آی ای یولوړ رتبه افسرمایکل ویکرز ښه په روښانو ټکوویلي دي چې ټېرکال امریکا دحوثي ډلې سره روابط جوړکړل او ورته یې دمرستو اطمینان ورکړ؛ هغه زیاتوي چې حوثي ډله اوس په منځني ختیځ اوخصوصاً یمن کې دالقاعده پرضدجنګ کې دامریکا له مهمواتحادیانوڅخه ده ؛ دامریکا اوحوثیانو ترمنځ پټ تړون شویدی ؛امریکا ته دوفاداری په عوض کې امریکا حوثیانوسره هم استخباراتي معلومات شریکوي اوهم ورسره مرستې کوي ؛ټېرکال په جون کې پر صنعاء دحوثیانوقبضه دامریکا اوحوثیانوترمنځ دجوړشوي ګډپلان په نتیجه کې رامنځته شوې وه .

دحوثیانوسره همدا دامریکا ډاډ و چې دوېړې داحساس پرته ښه په ټېزې مخ په وړاندې ولاړل اوپه ډېرې اسانۍ یې پلازمېنه صنعاء قبضه کړه.

اوعلي عبدالله صالح چې د۳۳ کلونو راهیسې دیمن پرواک مسلط و زیدي شیعه وخودیولسم ستمبردپېښې نه پس پرې امریکادخپلې مهربانۍ لاس رانېکلوځکه چې په یمن کې تړې دالقاعدې دځپلو کار اخستل مطلوب و چې دامامورېت به هغه په ډېراخلاص سرته رسولواوپه بدل کې یې دامریکا نه ښې ډېرې پیسې اووسلې ترلاسه کولې اوچې دیمن دفوځ ترڅنګ دحوثي ملېشونه هم دالقاعدې پرضد دجنګ په ډګرکې کاراخستل مطلوب ونوځکه به همدا دامریکا له لورې دورکړل شویو وسلونه ډېرې

زیاتې وسلې پخپله دیمن فوځ دکموپیسوپه مقابل کې حوثي ملیشوته ورکولې ؛ له همدې امله ده چې ډېرخلک وایې :حوثي ملیشې امریکا اوایران په ګډه مسلحې کړیدي .

دامریکامداخله باید ځکه له پامه ونه غورځووچې د ۱۱ ستمبرنه پس دامریکا پالیسي جوړوونکو داپرېکړه کړی وه چې دمنځني ختیځ سیاسي جغرافې ته به نوی شکل ورکوي ؛ پینټاګون ,,ری شیپنګ دی مډل ایسټ '' په نوم ددې پالیسۍ لپاره نوم هم ایښی وچې دتطبیقولو لپاره یې د ۲۰۰۳کال په مارچ میاشت کې امریکاپرعراق دحملې کولونه ددې عملي اقدامات هم پیل کړي ووخو دامریکا له بده مرغه چې دلته دمجاهدینو دسخت مقاومت په نتیجه کې دسختی ناکامۍ سره مخامخ اوله دې لارې یې ددې پلان دتطبیقېدلو پلان له خاورو سره خاوری شو نوټوله توجو یې ددولتونوپرضد دولسونوراپاڅولو اوپه نتیجه کې یې دهغه څه رامنځته کولو ته ورکړه څه چې اوس رامنځته شول اوزمورلې بده مرغه چې له دې لارې دپلان په تطبیقولو کې یې تردېره حده پرمختګ هم کړی .

ددجلې اوفرات دواړوخواوو اودشام بلادو کې ددې جنګ خپل عروج ته رسولوکې خودوئ لا له وړاندې بریالیتوب ترلاسه کړیدی اودادي اوس یې دجنګ په ستړدګر دیمن بدلولواوپه دې جنګ کې دسعودي عربستان اونوروعربي هېوادونودراښکېلولو له لارې دجنګ ،سترقتل وقتال اوبد امنۍ څپې تر خیبراومدینې منورې هم راورسولې .

ماته داسې نه ښکاري چې په حوثي باغیانودسعودي حملې به ددې جنګ دپای ته رسېدو سبب شي بلکې جنګ ته دسعودي عربستان په راګډېدو داجنګ شاید دومره پراخه شي چې نه یواځې منځني ختیځ بلکې ټولې اسلامي نړۍ کې دفرقه ایزو شخړو یو طوفان رامنځته شي ؛ که دادستروزبرخواکونوهدف وي اوخدای مکړه همداسې وهم شي نوړومبی ښکاربه یې سعودي عربستان وي اوترټولوزیات تاوان به یې هم سعودي عربستان ته ورسېږي.

حالاتو چې پرکوم لورحرکت پیل کړیدی که همداسې یې دوام وکړ شاید ډېرژردسعودي عربستان په ختیځ کې دتېلودزېرمونه ډکې ساحلي ټرانګې کې مېشت شیعه ګان دایران په مرسته اولمسون دسعودي نه دازادۍ اخستلو په موخه ددولت پر ضد پاڅون پیل کړي ؛ ددې پاڅون اندېښنه یواځې بې دلیله اندېښنه نده بلکې باید په تأسف سره ووایوچې دایران

مسئولوڅېرولاډېردمخه ددې پروګرام په هکله خپل شوم عزائم ښکاره کړيدي .

دايران له مقتدروحلقونه اوس دا ناري هم اوربدل کېږي چې پرحرمينودسعودي خاندان دقبضې دله منځه وړلو اوددې خاندان دخاتمې وخت رارسېدلی دی .

نوځکه داويل ځای دي چې په ټول منځني ختيځ کې دجنګ درامنځته کولوداپلان دامريکا، نورلويديځ اواسرائيلو دی خود جنګ ددې اورخاشاک دلته داوسېدونکو مسلمانانو فرقه ايزتضادات دي ؛داسې تضادات چې هره فرقه دبلې نابودي غواړي؛ دابايد ومنوچې دتضاداتو دې اورته تيلی دايران دانقلاب دکاميابی پرمهال وهل شويدی چې بدبختانه په تېرو ۴ لسيزو کې يې ټول منځني ختيځ ته لمبې ورسېدې .

دمنځني ختيځ په اړه چې ايران کومه پاليسي غوره کړيده هغه قطعاًدمنلو وړنده خوهدف مې دا ندی چې دايران پرضد دنورې اسلامي نړۍ يوځای کېدل اويادسعودي په مشرۍ کې دعربوهېوادونواتحاد جوړېدل اوپرحوثيانوهوايې بريدونه ګينې ګټوراوپرځای اقدام بولم ؛ داسمه ده چې دنړۍ يوهېواد هم خپل امنيت ته متوجې ګواښونه نشي زغملای اوهغه هم ديوبل هېواد سره دتړاولرونکې باغي ډلې له لورې؛ خوسعودي بايددې ګواښونودله منځه وړلو لپاره هم د دپلوماسۍ په دګرکې په نړيواله سطحه ټولې هڅې کړې وای اوهم يې داسلامي نړۍ دبا اثره هېوادونونه دمسئلې دحل لپاره داغېزمنو اقداماتوجدي غوښتنه کړی وای اويادې هېوادونوله خپل لورې منځګړيتوب ته راوړاندي شوي وای ؛ ديمن مسئله ډېره کوچنۍ مسئله وه خو سوله ايزحل يې ځکه ندی راوتی چې پدې اړه بيخي يوکوچنی اقدام هم اسلامي نړۍ ندی کړی.

اوس هم لاوخت ندی تېر؛ بايدداسلامي نړۍ مهم هېوادونه له خپل لورې دسوله ايزحل په مرخه ډګر ته راووځي اودستونزې داسې حل راوباسي چې هم پکې دحرمينوشريفينوخوندیتوب يقيني وي اوهم يمن دجنګ په يوبل سترډګر دبدلولونه وساتي او ددواړو ارخونو تر خپلو حدودو دمحدودېدلو اوپه يوبل باندې دتجاوزنه کول تعاهد واخلي او پدې يې پوه کړي چې جنګ له ځانه سره لويې بدبختۍ راوړي اودابختۍ يواځې ددواړو ارخونوپورې نه وي محدودې بلکې دټولې اسلامي نړۍ ته به خپرېږي چې په جنګ کې داخته کېدونه امله دشام ،عراق اوليبيابدترحالت يې زوندۍ ببلګې دي .

مسلمان او د وخت تنظیم

لیکوال: محمد بشیر جمعه

د وخـت تنظـیم (Time Management)

داسې یو استعداد یا وړتیا ده، چې د هغې بنسټ ستاسې ذات او شخصیت دی، تر څو چې تاسې د خپل ځان په اصلاح او سـمونه لاس پـورې نکـړئ، تر هغې پورې تاسې ، په خپـل لاس کـې لـه شـته وخت څخه په سمه توګه ګټه نشی پورته کـولای، ځکه نو د خپل ځان دتنظیم ، ښېګڼې، پرمختـګ او پـه اخلاقـو اوکړنـو کـې د پرمختـګ هڅې، د وخـت د تنظـیم پـه لار کـې ستاسې هلې ځلې ځلوي.

د وخت د تنظیم لپاره پنځه پړاوونـه ټاکـل شوي دي، د دې هر پړاو سره بیا د دغې بهلابهلې برخې هـم دي، د خپلې روزنې، تزکیې، د خپـل شخصـیت د ترتیـب او تنظـیم او د خپلـې کـار کړنې د غزولو او غوړولو لپاره، ددې ټکـو پـه اړه فکر وکړئ.

لـومړی پـړاو؛ دخپـل شخصـیت ارزونـه:

۞ خپل ځان وپېژنئ:

*یوازې کښېنئ خپل ځان وارزوئ، له خپل خالق سره اړیکه ټینګه کـړئ او فکـر وکـړئ چې هغـه د خـاورې پـدې بـت کـې د روح(ساه) تـر څنګ، څومره نعمتونه، وړتیاوې او ځومره اړېکې پیدا کړې دي.

*په یـاد ولـړئ چې د الله تعـالی لـه لـورې ورکړل شوي نعمتونه مونږ شمېرلی نشـو، یـوازې په تصور کې هغه راوستلای شو او په اړه یې سوچ کولای شو.

۞خپله پېژندنه ولیکئ:

*احساس وکړئ چې تاسې څـه وئ، اوس څه یاست او که چېرې دالله تعـالی د نعمتونـو دا لړی همداسې روانه وه، نو نور څه کېـدای شئ؟

*په اوونۍ کې یوځل حتماً له خپل ځـان سره پـه یـوازې بڼـه کتنـه وکـړئ او بیـا ددې کتنـې یادښتونه واخلئ.

*خپل شخصیت ته وخت ورکړئ، له هغـې سره وخـت نـا وخـت وګـورئ، دا شخصـیت سره

لدې چې له تاسې سره دی، عموما ستاسې څخه لیرې او محروم اوسېږي.

۞ **خپلې مثبتې او منفي چارې وګورئ.**

*تاسې په یقین سره د نړۍ له سل هاوو زره انسانانو څخه غوره یاست او په سل هاوو زره نو ستاسې څخه غوره دي، تاسې کولای شئ خپلې ډېرې کمزورۍ یوازې له لرې هڅې سره لیرې کړئ.

*تاسې هره اوونۍ خپلې ځینې نیمګړتیاوې و ارزوئ او دهغې د کمولو هڅه وکړئ.

*ددې کار لپاره د ځان لپاره د یاداشت یوه کتابچه جوړه کړئ او دهغې لپاره یو قلم هم ځانګړی کړئ، دا په حقیقت کې ستاسې د رازونو یو سند ګنل کېدای شي.

۞ **وګورئ چې تاسې خپل وخت چېرته او په څه ډول تیروئ.**

*لږ تر لږه یوه میاشت ددې هڅه وکړئ چې د خپل وېښ توب د وخت حالات ثبت کړئ اوهره اوونۍ د ۱۵۶ ساعتونو حالات وارزوئ چې په څه ډول مو مصرف کړي او دا وګورئ چې د وخت ددې مصرف څخه تاسې ته، ستاسې کورنۍ ته، یا ستاسې کارو بار او تجارت ته کومه ګټه ورسېده، یا د دنیا او آخرت له اړخه مو کومه ګټه ترلاسه کړه که نه؟

۞ **ددې یوې میاشتې تر ارزونې وروسته هڅه وکړئ چې د بې ګټې کارونو پرځای خپل وخت په ګټورو کارونوولګوئ.**

۞ **د وخت د تنظیم له اړخه د خپلوتوانمندیو او خپلو نیمګړتیاوو اروزنه وکړئ.**

*که چېرې تاسې دوه تنه د اوبو یوه ډنډ ته ور ټېل وهئ او ویې غورځوئ او ورته ووایئ، چې دواړه دې ځان د اوبو ډنډ څنډې ته د رسېدو هڅه وکړئ، نو په طبیعي ډول به هغه کس د ډنډ څنډې ته رسېږي چې د اوبو په ډنډ کې یې لامبل زده وي او دهغه چا چې لامبو زده نه وي، نو هغه به کوم بل لوري ته ولاړ شي.د وخت تنظیم یو هنر دی باید د هغې د زده کولو هڅې وکړو.

*د وخت د تنظیم د توان خپلولو روزنه، په لومړي سر کې ګرانه وي، خو د پرله پسې هڅو او تمرین سره تاسې ډېرې اوچتې کچې ته رسېږئ.

۞ ددې توان په خپلولو سره به ستاسې کار کړنه پرمختګ وکړي، ستاسې په شخصیت کې به تاثیر او په معاملاتو کې به توازن پیدا شي، ستاسې ژوند به معتدل او ستاسې هلې ځلې به د یوې نتیجې درلودونکې شي.

۞ کورني او بهرني مسایل و څېړئ

*هر انسان له ځان سره مسایل لري، خو د وخت تنظیم د هغه موټر په څېر دی چې غواړي په اوږده سفر روان شي، نو باید تر روانېدو وړاندې د موټر د بېلابېلو برخو وضعیت وکتل شي.

*کوم مسایل چې په تاسې پورې تړلې دي، هغه وارزوئ، هغه مسایل هم وګورئ چې پر تاسو پورې تړلي ندي خو تاسې ته تکلیف رسولی شي او د هغې له املـه ستاسې کارکړنـه اغیزمنـه کېدای شي، دا مسایل دفتري هم کېدای شي، د کاروبارارونـد هـم، کـورني هـم کېـدای شي او ټولنیز هـم، همدارنګـه پـه روغتیـا پـورې اړونـد مسایل هم.

خپل عادتونه و ارزوئ

*هغه عمل چې تاسې یې پرته له کـوم فکـر او سوچ څخه ترسره کـوئ، هغـه ستاسې عـادت ګرځېدلی، دا ډول عملونه اصولاً تاسې ته د اصولو بڼه غوره کوي.

*خپـل خـراب عادتونـه وارزوئ، د هغـې د ختمولو یا کمولولپاره پلان جـوړ کـړئ او بیـا پـه منظم ډول پرهغې عمل وکړئ تر څو هغه په یـوه منظم وخت کې خـتم شي، پـه کـوم ډول چـې د مرضونو درملنه کېږي، په همغه بڼه باید دهغـه عـادتونو درملنـه هـم وشي چـې د ترقـي او پرمختګ په لار کې خنډ جوړوي.

دویم پراو؛ د یوه نصب العین)ستړي مـوخې) ټاکل:

*ژونـد د الله لـوی نعمـت دی، د ژونـد د شېبو پیمانه وخت دی.

*ژونـد د نعمتونـو د اسـتعمال اوپـه هغـو پورې د تړلیو مسؤولیتونو د ترسره کولو نوم دی.

*ژوند پـه دنیـا کـې دعمـل او کړنـې اوپـه آخرت کې د هغې د پایلو نوم دی.

د ژوند موخه او هدف باید څه شی وي؟

*د ژوند موخه او هدف له الله سره تـراو، د هغه له خوا په وړاندې شوي د ژوندانه نظام او له هغه سره پـه کـړې ژمنـه بانـدې عمـل کړنـه ده.

*ددې ترټولوغوره بېلګه د الله نبي دی اودهغـه د سیرت په څېر د ژوند تېرول، بایـد زمـونږ هـدف او موخه وي.

*دا ژمنه هم ځان ته یولږ آداب لري، ځینې کارونه د کړنې دي او ځینې کارونه د نـه کړنې.

*د مسؤولیت احساس او په آخرت کې د ځـواب ورکړې لپاره تیـاری بایـد زمـونږ هـدف او موخـه وي.

*ددې موخې بڼه والی دادی چې دنیا بـه مـوهم بڼه وي او د دنیا او آخرت تر منځ پراو(بـرزخ) بـه هـم بڼـه وي او بـالاخره بـه آخـرت هـم بڼـه وي.

د موخې تر ټاکل کېدو وروسته پر ژوند اغیزې:

*ددې موخې تر ټاکل کېدو وروسته زمونږ په ژوند کې د هېلې او وېرې پراو راځي.

*ددې موخې ترټاکل کېدو وروسته د سړي پـه شخصـیت کـې یـو تـوازن، ترتیـب، تنظـیم، مهذب والی او توکل راځي.

*دا ټاکـل شـوې موخـه، لـه مـونږ څخـه رښتینولي، ایمان داري، امانت، په ژمنه وفا او له خپـل خـان سره د انصـاف پـه څېـر د اخلاقـي صفتونو غوښتنه کوي.

*عزت نفس، انسانیت ته درناوی، اعتدال، په معاملې پوهېدل،عفو او بخښش، د غوسې کنټرول، صبراوشکر، دا هغه ارزښتونه دي چې زمونږ د شخصیت لپاره ضروري دي.

*ددې موخې د ترلاسه کولو لپاره، تاسې باید خپل مقصدونه اوهدفونه وټاکئ.

دریم پړاو؛ د موخې ترلاسه کولو لپاره دهدفونو ټاکل:

۞ د سفرد لارې خرڅ وګورئ او د سفرد ښه والي لپاره هم هدفونه وټاکئ.

***د مسؤولیت احساس:** دا هغه بنسټیز عنصر دی چې کله غواړئ، موټر وچلوئ، نو باید ستاسې په شخصیت کې شتون ولري.

***رویه** :دا هغه عنصر دی چې تاسې د ټولو د خوښې وړ هم ګرځولای شي او د ټولو له نظره مو غورځولای هم شي، تاسې پر دې موضوع د غوراو هغې ته د تیارۍ لپاره اړتیا لرئ.

***عادتونه:** دا هغه کړنې دي چې د وخت په تېرېدو سره، ستاسې د ژوند قواعد او اصول ګرځېدای شي، پدې عادتونوستاسې سفر ګړندی کېدای شي او منزل ته لنډېدای شي.

***وړتیاوې او توانمندي:**دا هغه مطلوبه وړتیاوې دي چې ستاسې د بقا، پرمختګ او بریالیتوب د ترلاسه کولو لپاره ضروري ګڼل کېږي، پدې وړتیاوو کې له غوراوفکر څخه نیولې بیا تر ټولنیزو هلو ځلو، د کار تقسیم او قیادت ټول شامل دی، خو دا دعمر او مسؤولیتونو سره ترلې دي

***ټکنالوژي:** دا پېړۍ، د ګړندیتوب او د سرحدونو او پولو پرته پېړۍ ده، ټکنالوژۍ دومره پرمختګ کړی چې اوس د کلونو کلونو سفر په څو شېبو کې ترسره کېږي او نړۍ اوس په یوه لپ ټاپ یا ګرځنده ټلیفون کې را غونډه شوې ده.

۞ **د لاندې څو ډګرونو لپاره هدفونه او منزلونه وټاکئ**

*د شخصي ژوند لپاره، د روزنې او روغتیا لپاره، د پرمختګ او بریالیتوب لپاره.

*د تعلیمي ژوند، شخصیت او کرکټر جوړولو او اقتصادي سوکالۍ لپاره.

*د کورنۍ، مور او پلار، مېرمنې او ماشومانو او کورنۍ ژوند لپاره.

*په ټولنیزاو سیمه ییز ژوند کې د خپل عزت نفس او مقام لپاره.

څلورم پړاو؛ په خپل شخصیت کې بدلون او د زده کړې عمل:

*د خپل فکراو سوچ بڼې ته پاملرنه وکړئ، په هغې کې د بدلون راوستلو هڅې وکړئ او هغه د خپل ژوند له موخو او مقصدونو سره همغږی کړئ.

*خپلې وړتیاوې و ارزوئ او هغه د اوسني عصر د غوښتنو سره سمې جوړې کړئ.

*خپلې اړیکې و اړوزوئ او هغه د خپل ژوند له موخو او مقصدونو سره همغږي کړئ.

*خپل اخلاق ښایسته کړئ او په هر ډګر کې هڅه وکړئ ځان د ټولو لپاره ګران او نږدې وګرځوئ.

*دخپلو معاملاتو له اړخه ځان خورا د اعتبار وړ ثابت کړئ ترڅو پرتاسې باندې باور وشي.

*خپل ځانونه منظم کړئ، د خپل شخصیت د خوړلو پرځای د غونډولو هڅه وکړئ، خپل خواره واره شیان او معاملې را ټولې کړئ، له سره یې و ارزوئ چې څه پکې ضروري دي او څه پکې غیر ضروري؟

*کوم کار چې ترسره کوئ، هغه وارزوئ، چې آیا د هغې ترسره کول ضروري دي او ترڅنګ یې یو داسې فهرست جوړ کړئ چې دهغې له مخې تاسې پرېکړه وکړئ چې دا کار باید تاسې ترسره نکړئ.

*د وخت له ضایع کېدو او ټنبلۍ ځخه ډډه وکړئ، د خپل وخت ضایع کېدو ته ډېره پاملرنه وکړئ او هڅه وکړئ چې له خپل ژوند څخه د سستۍ، ټنبلۍ او دنن کار سبا ته پرېښودوعادت کم کړئ

*موخه او مقصد مو مخې ته کېږدئ او کار وکړئ، کوم کار هم چې کوئ، په خپل ذهن کې مو باید خپله موخه څرګنده وي او وګورئ چې دا ستاسې کار ستاسې د موخې مطابق پر مخ ځي که نه؟

*هره ورځ د یوازیتوب او تنهایی څو شیبې وګورئ، هڅه وکړئ او ځان دې ته تیار کړئ چې خپله نن ورځ له تېرې ورځې څخه ښه جوړه کړئ او راتلونکې ورځ مو له تېرېدونکې نن ورځې څخه ښه وي.

پنځم پړاو:عملي پرمختګ او دهغې ارزونه:

۞ د لومړیتوبونو مطابق پلان جوړ کړئ.

*لومړیتوبونه مو درجه بندي کړئ او دځان لپاره عملي پروګرام جوړ کړئ.

*د مقصد، مطلب او پړاو د ترلاسه کولو لپاره پلان جوړ کړئ.

*تقویم یا کلیزه مخې ته کېږدئ اوخپل کارونه د وقت په حساب تنظیم کړئ.

۞پرېکړه وکړئ چې د خپلو موخو دترلاسه کولو لپاره له کومو معاملاتو څخه تېرېږئ.

*د خپلو کارونو او موخو د یوه فهرست جوړول ضروري دي.

*خپل شته وسایل او وړتیاوې مخې ته کېږدئ، بیا له هغې څخه باید ځینو موخو او کارونو ته د نوروپه نسبت لومړیتوب ورکړئ او له ځینومقاصدو او کارونو څخه لاس په سر شئ.

۞ د خپلو ضروري کارونو یو تقسیم اوقات جوړ کړئ

*خپل کارونه داسې ترتیب کړئ چې خپلې موخې او مقصدونه مو مخې ته اېښې وي.

*د ورځې د ساعتونو له مخې تقسیم اوقات جوړ کړئ اوټول ورځنۍ کارونه مو له دغه تقسیم اوقات سره وټړئ.

۞ د کارونو لپاره مو وخت او وسایل وټاکئ.

*له هدف سره د مینې لپاره، دخپلو کارونو لپاره د وسایلو تیارول ستاسې خپل مسؤولیت دی.

*د کار، وسایلو او ټاکل شوي وخت په کلکه رعایت وکړئ.

۞د ورځنیو کارونو فهرست جوړ کړئ او په کلکه پرې عمل وکړئ.

*هره ورځ تر وېده کېدو وړاندې، د راتلونکې ورځې د کارونو فهرست جوړ کړئ، د خپلو کارونو لومړیتوبونه وټاکئ او پر هغې د منظم عمل کړلو لپاره په ترتیب سره نمبر یا شمېره ورکړئ.

۞ **له افرادو سره د کار کړلو لپاره د ټولنیزو هلو ځلو هنر زده کړئ.**

*په ځان کې له افرادو سره د ګډ کار کړلو وړتیا پیدا کړئ

*افراد و روزئ، او هڅه وکړئ چې له هغوی څخه یو اغېزمن ټېم جوړ کړئ

*تر روزنې وروسته، ټېم ته کار هم ور زده کړئ.

*هغوی ته د کارکولو روزنه هم ورکړئ او تر څنګ یې په هغوی کې باور را پیدا کړئ او هغوی ته د کار سپارلو هنر هم ور زده کړئ.

*په خپله هم خپل ځان و ارزوئ اوله خپل ټېم سره مو هم د ځان د ارزونې لپاره یو پروګرام جوړ کړئ

*د نبو او نېکو کړنو ستاینه مو عادت و ګرځوئ او خپل هغه کسان چې نبه کار کړنه لري، د ټولو په مخ کې یې ستاینه وکړئ.

*د اغېزمنې کار کړنې افرادو په مسایلو او ستونزو د ځان پوهولو هڅه وکړئ، یا کم تر کمه هغوی په نبو الفاظو تنبیه کړئ.

*د تنبیه پر وخت د خپل ملګري شخصیت او عزت نفس ته پام وکړئ او داسې خبره مه کوئ چې دهغه د زړه ماتېدو سبب شي.

۞ **دنوي سوچ او نوي فکر سره بدلون راولئ**

*په سوچ او فکر کې تنوع او نوی والی راولئ.

*ددې کار لپاره غور، فکر او مطالعه وکړئ.

*خپل افراد او وګړي لدې سره هم عادت کړئ، هغوی پوه کړئ چې دا کار د کور د حساب په ځېر دی، تر څو تاسې په ضروري او غیر ضروري مصارفو باندې پوی شئ.

تر ۲۰۷۰ کاله به د اسلام مبارک دین د نړۍ تر تولو په لوی دین بدل شي

په امریکا کې یو څیړنیز مرکز ادعا کړې ده چې تر ۲۰۷۰ کاله به د اسلام مبارک دین د نړۍ تر تولو په لوی دین بدل شي.

په امریکا کې یو څیړنیز مرکز ادعا کړې ده چې د اسلام مبارک دین به تر ۲۰۷۰ کاله د نړۍ تر تولو په لوی دین بدل شي.

یاد شوي څیړنیز مرکز ویلي دي مسیحیت چې دم ګړۍ په نړۍ کې تر تولو لوی دین دی او تر تولو ډیر زیات پلویان لري د لومړي خل لپاره خپل محبوبیت د لاسه ورکړی او د پلویانو شمیره یې مخ په کمیدو ده. په څیړنه کې د فرانسې ، استرالیا او انګلستان نه د مثال په توګه یادونه شوې او ویل شوي دي چې پدې درېو هیوادونو کې د مسیحیانو کچه د هرې ورځې په تیریدو سره مخ په راټیټیدو ده.

دا څیړنې د امریکا د (پیو) څیړنیز مرکز چې په واشنګټن کې قرار لري لخوا شوي دي. یاد شوي څیړنیز مرکز ویلي دي چې په نړۍ کې د اسلام مبارک دین د پیروانو کچه د هرې ورځې په تیریدو سره مخ په لوړیدو ده.

د انګلستان د یو مطالعاتي مرکز یو تن استاد دیوید واس چې د تولنیزو او اقتصادي چارو په برخه کې څیړنې کوي ویلي دي د اسلام د مبارک دین پراختیا په دیره چټکه توګه دوام لري. نومورې ویلي دي چې ددې خبرې اصلي لامل په نړۍ کې د نښتو، تاوتریخوالي او ډول ډول ستونزو له امله لویدیځو هیوادونو ته د کډوالۍ بهیر او مهاجرتونه دي. نومورې زیاته کړه چې دې مسلې په اصل کې د هغه ځوانانو په پرتله چې تحصیل کړي دي بې تحصیلو ځوانانو ته یو ښه فرصت ورکړی دی .

په څیړنو کې ویل شوي دي چې په نړۍ کې د مسلمانانو نفوس هم په چټکۍ سره د ډیریدو په حال کې دی.

په لویدیځه نړۍ کې د هرې ورځې په تیریدو سره د اسلام په لورې د خلکو د خویدو لړۍ په چټکۍ سره دوام لري

په څیړونو کې ادعا شوې ده چې د اسلام دین به تر ۲۰۷۰ کاله پورې د مسیحیت د دین نه خپه

واړوي او د نړۍ تر ټولو په لوی دین به بدل شي.
پدې څېړونو کې اټکل شوی دی چې تر ۲۰۵۰ کال به په نړۍ کې د اسلام او مسیحیت د دیتونو د لارویانو شمیره مساوي شي.

د ۲۰۵۰ کاله وروسته به د اسلام د مبارک دین د پلویانو یا مسلمانانو کچه د هرې ورځې په تیریدو د نورو ټولو دینونو په پرتله مخ په لوړیدو شي.

پدې څېړنه کې ویل شوي دي د ۲۰۱۰ کال د څېړونو له مخې د نړۍ نفوس ۶ عشاریه ۹ میلیارده تنه وو چې تر ۲۰۵۰ کاله به د نفوس کچه هم ۹ عشاریه ۳ میلیاردو تنو ته ورسیږي.

په څېړونو کې ویل شوي دي چې په ۲۰۱۰ کال کې په نړۍ کې د مسیحیانو نفوس ۲ عشاریه ۲ میلیارده تنه وو او د مسلمانانو ۱عشاریه ۶ میلیونه تنه چې تر ۲۰۵۰ کاله به دا رقم مساوي شي.
ددې مرکز یو تن بل څېړونکي کنراد هاکت بیا ویلي دي چې "په ډیر پوره باور او یقین دا ویلی شو چې په نړۍ کې د اسلام دین په ډیره چټکۍ سره د پرمختګ او لوړیدو په حال کې دی. همداشان په راتلونکو څو لسیزو کې به د اسلام دین په نړۍ کې تر ټولو په لوی دین بدل شي

(منبع العربیة)

نشرونکی :محمود خوځښت

انار او خرما مو د زړه له ناروغیو ژغورې

هره ورځ نیم ګیلاس د انارو جوس او څو خرماوې خوړل انسان د زړه له ناروغیو ژغوري.

په نوې طبي څېړنو کې ویل شوي، چې هره ورځ نیم ګیلاس د انارو جوس او درې خرماوې خوړل انسان د زړه له ناروغیو او ګوزن څخه ژغوري.

څېړنه کې راغلي چې انار او خرما کې انتي اکسایټډنټس موجود دي او دا شیان د زړه رګونه له سختوالي ساتي او د زړه د ناروغیو په مخنیوي کې دري دېرش سلنه ګټور ثابت شوي دي.

څېړنه زیاتوي، د زړه رګونو کې د وینې بند پدو له امله زړه یا دماغ ته د وینې نه رسېدو له امله انسان پر فالج او د زړه په ناروغیو اخته کیږي او له دې ناروغیو د ژغورنې لپاره باید د انارو جوس او خرما وخوړل شي.

طبي کارپوهان وایي، چې د انارو جوس او خرما ۳۳ سلنه د زړه د ناروغیو مخنیوی کوي د وینې غوړ «کولیسټرول» ۲۸ سلنه راکموي.

د مدني ټولنو موخې!؟

(حنظله م)

په نړۍ کې له اسلامي نظام را وروسته د بشري نظامونه په راتګ سره دول دول قوانین رامنځ ته شول چې د هغو له ډلې څخه یوهم مدني قوانین دي.مدني قوانین هغو قوانینو ته ویل کېږي چې بشر په خپل لاس د خپلو ستونزو، غوښتنو او ګټو له پاره د خپل فکر په اساس قوانین وټاکي، چې ځینې یې د وضعي قوانینو په نوم هم یادوي. مدني قوانین د حاکمو چارواکو او زورواکو له خوا د خپلو ګټو د خوندي کولو په موخه ټاکل کېږي او د دې قوانینو د تطبیق او دعوت په موخه ځینې ډلې ټپلې جوړوي چې دغو ډلو یا ټولنو ته مدني ټولنې او فعالیت کوونکو ته یې مدني فعالان ویل کېږي.

د مدني ټولنې په اړه ببلابېل تعریفو راغلي دي غواړم د ځینو یې دلته یادونه وکړم. د مدني ټولنې د تعریف په اړه یو غربـــــي جایی سن Jai) (Senداسې وایي: ((مدني ټولنې نوې استعماري پروژې دي چې نړیوال یې د خپلو ګټو لور ته لارښوونه کوي)). د مدني ټولنې بل تعریف په دې دول سره شوی دی: ((مدني ټولنه د یو پُل حیثیت لري، دولت د ملت خواته او ملت د دولت خواته پرې تېرېږیا هغه کړی ده چې ښي او چپ سره نښلوي)). په ځینو وختونو کې مدني ټولنو ته غیر انتفاعي بنسټونه هم ویل کېږي. د اتو صنعتي هېوادونو څخه لاس ته راغلې ځېرنې ښیي چې دغو بنسټونو په ۱۹۹۹ میلادي کال کې یوولس میلیونه او نه سوه زره کارکونکي درلودل او دغه راز یې ۶۱۴ ملیارده ډالر لګښت کړی دی او همدا دول په امریکا کې یو عشاریه ځلور میلیونه غیر انتفاعي بنسټونه شتون لري، چې پانګه یې د ۵۰۰ ملیاردو ډالرو برابره ده.

